دافوتو دوزیرو دتوری خیلو او بېټنو دهغو مشرانو اوهغو ځامیانو دی چه کوم وخت چه د کراچۍ عسکرو په (پتی ا وسپلګه) تعرض وکړ
نودوی دمنځنی پښتونستان مرکز ته حاضر شول او دخیل رئیس د وړاندی ئی د پښتونستان د آزادۍ د پاره خپله تیاری ښکاره کړه .

څلوریځی

چاچه خپل قدر په خپله وکړ گله ستاره دهغه قوم په عروج شوله
خدای هم نه بدلوی حال دهغه قوم چه څوک نه بدلوی خپل حالت په خپله

* * *

تاله ښایی په خپل لاس موقع پیدا کړې انتظار د موقع چېری دانانه کړی
ته کړې فخر بدل کړی زمانی یم مر دهغه دی چه بدله زمانه کړی

* * *

په پښتو خبری مونږ ته شرم ښکاری تر دې حده قومیت زمونږه مړدی
خپل مذهب اوژبه پری نږدې افغان چه همدغه د قومی ترقی جړدی

(له گل کوهی څخه)

* * *

۳۰۱

د قوس ۱ | د صفری ۲٤ | د نومبر ۲٤

۱۳۳۰ ش | ۱۳۷۱ ق | ۱۹۵۱ ع

د (۲۱) کال | (۱۷) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبی اجتماعی، تاریخی مجله

دپښتو ټولنی د لوی مدیر

صدیق الله رشتین

ترکستنی وروسته خپریږی

پته : پښتو ټولنه ، دابن سیناواټ

تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه

د تیلفون نمبر ۱۰٤۷

ددې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
دقومونو دژوند اومرګ مسئله	ښاغلی صدیق الله (رښتین)	۱
دمتحده قومونو ددنیا دپس مانده قومونو دمعاشی ترقی دپاره څومره کار کړی دی؟		٤
اسمان ته ختل	ښاغلی عبدالغفار الهاشمی له مصر څخه	۸
ښځه دپښتانه کره	ښاغلی محمد ګلاب ننګرازی	۱۱
رنځور او ښندی	ښاغلی غلام نبی د چکنور	۱۳
ورسې	ښاغلی قیام الدین (خادم)	۱٤
دحق په لوری لاړشه چه کاروان		
ته وزسې	ښاغلی (بختانی)	۱٤
پتنګ	ښاغلی محمد صدیق (پسرلی)	۱٤
له حیلو پښتنو وروڼو وداع	ښاغلی (قانع)	۱۵
د جوش ملیح آبادی ملا قات	ښاغلی صدیق الله (رښتین)	۱٦
ښاروال او کلیوال	ښاغلی فقیر محمد (بای زی)	۱۷
زما ژوند	ښاغلی غلام محی الدین (ایوبی)	۱۹
دمصر یانو په نظر کښې دسویز د کانال مسئله	دښاغلی عزیز الرحمن (سیفی) په قلم	۲۰
مرحوم غلام صدیق خان مومند	داداري له خوا	۲۳
خوشحال خان ختك څه وایي؟	ښاغلی عبدالرؤف (بېنوا)	۲۵
دعبدالحمید مومند دیوان	ښاغلی صدیق الله (رښتین)	۲۹

دقومونو ژوند او مرگ

له څنګه چه افراد او اشخاص هر یو لحاظ له مرګ او ژوندلری پیدا کیږی او فنا کیږی زیږی او مری دغسی قومونه او ملتونه هم دفنا او بقا، مرګ او ژوند د فطری قانون په دایره کی دننه حسابیږی یو قوم مری او بل ژوندی کیږی یو پریوزی او بل جګیږی او په دی شان دزمانی دوران وار په وار په قومونو او ملتونو کښی ګرځی او له یو لاس نه بل ته درومی ایشیا دمدنیت او قومونو دژوندانه او ترقی لومړی ځانګه ده په لیری شرق کښی چین او په نزدی شرق کی مصر دروښانه مدنیت لو مړنی مرکزونه دی. دترقی اوژوندانه دانوبت چه په ایشیا کښی وګرځید نو بیا اروپا ته لاړ، دیونانیانو او رومیانو دمدنیت دوره لکه نمر په توله نړی وځلیده خو بیړی اوقرنونه پس دیورپ په وچه امده اوهوا کی دجزریعنی دیر بوتو اوتیتیدو دوره شروع شوه او دغه نوبت دعربو خاوری ته راورسید. داسلام دمبارك دین رڼا په شرق او غرب کښی خپره شوه، دانسانیت دلویو درجو دژوندانه داساسی اصولو، دجګو او لوړو اخلاقو خزانی رابرڅپره شوې او دنړی په تاریخ کښی یوه ځلانده دوره شروع شوه.

په دی دور کښی یوالحی عرب نه بلکه ددری وچو یعنی اروپا، افریقا او ایشیا ټول قومونه دانسانی ترقی په لور روان شول دژوندانه په یو روښانه دوره کښی ورننوتل په غرب کی د(پیرنی) له غرونو څخه او په شرق کښی دچین ترغاړو مور ګو پوری داسلامی مدنیت رڼا ورسیدله او په دې منځ کښی ټول قومونه او ملتونه ددې روښنایی په رڼا کښی مخ په وړاندی لاړل.

په اتلسم نولسم عیسوی قرن کښی بیا یورپ په ترقی شروع وکړه او یونوی مدنیت ئی دنیا ته وړاندی کړ داخل دصنعت او تخنیك په دنیا کی اروپایان پورته اسمان ته وختل اولانـدی دسمندرتل ته کوزشول دعلم اوفن په لحاظ بشر دترقی دلوړو منارو په سر ودرید.

اودنوی عصرهنگامه ئی دنیانه ورسوله ،

دوی دصنعت او تخنیك په زور دحا کمیت لاس افریقا او ایشیا نه هم را اوږ د کړ اودنورو انسانانو دمریی کولو ، محکومولو خیال ئې په سر کښی وزیږید په دې وخت کښی دنورو بنیادمانو داستعمالولو ، اوددوی دوینو زیښلو نظریه پیدا شو دانظریه په ښکاره هرڅه چه وه لا کن په باطن کی یوه حیوانی نظریه وه ولی چه دخپل هم نوع وینی څښل اوغوښی خوړل دحیوانانو کاردی نه دانسانانو. له دې کبله چه دا کار دانسانیت له وظایفو اودژوندانه دښه نظام سره مخالف و نوبیا پکښی کدو دی اوفتور پیداشو ددوو لو یو جنګونو په غم او مصیبت اخته شول ، دیری بربادی او تباهی ور ته پیښی شوې او په حقیقت کښی د بی نظمی اوبی اتفاقی په دند کی ولو یدل . داخلاقی صلاحیت ، او انسانی لوړتیا ماده پکښی لږه شوه نوځکه پری دبربادی سیلی راوالوته او په اصلی مصیبت چه لوږه اوتنده ده ککړشول .

دترقی اوژوندانه نوبت چه په زړه دنیا کی څوځله کښته پورته و کړځید نوبیا دنوی دنیا یعنی امریکی اوورسره داسترلیی وارراغی اوس امریکه هم دخپلی ترقی معراج ته رسیدلی اودژوندانه په جګو منارو کښی ئې دلوړتیا انګازی خیژی مګر که چیری ددنیا نورو قومونو ته ئی داستعمار او استعمال لاس را اوږد کړ نو ګومان نه کیږی چه دزمانی خیبره ئې په مخ ونه وهی اوپه همدغه خیال کښی ئې پریږدی. له بلی خوا په ایشیا اواروپا کښی یومخلوط مدنیت هم مخ په ترقی روان دی، دوی دژوندانه دښه نظام د قایمولو دپاره نوی لاری او نوی نظریی موندلی دی. په دوی کښی د کارل مارکس او لینن حیاتی تبلیغونو د کارو بار، فعالیت او ژوندانه یوزبردست روح پوکلی دی. که چیری ددوی دماغی او بدنی فعالیت یوالحی دانسانیت دلوړتیا، دنظام دښه والی اوداصولو در واجولو دپاره جاری پاتی شی نوښائی چه داوږدې دوری خاوندان شی او که نه دعلم او تخنیک قوت دغرور په اس سواره کړل اودنورو قومونو دلاندی کولو، استعمالولو او خوړلو لارئې وینوله نوبیا به ددوی پاتی کیدل دفطرت دناموس نه یومخالف کاروی . دیورپ داستعمار په دوره کښی د ایشیا ټول قومونه تقریباً دمرګ اوتنزل په دوره کښی وو. اوس لکه چه بیا ددوی د وینیدو او جګیدو وار را رسیدلی وی . په لیری شرق کښی دلوی چین

جوړیدل، د اندونیزیا په جزیرو کښې دخلکو وینبیدل او یو قومی ملی حکومت جوړول، په هند کښې د آزادۍ او خپلواکۍ بیرغونه جګیدل او دغسې نورنهضتونه دایشیا د جګیدو قوی نښې او علامې دی نن چه په ایران کښې د تیلو د ملی کولو مسئله په ډیر قوت روانه ده او تول ملت ورته ملاتړلی ده یا په مصر کښې د سودان او مصر د یو والی چیغې پورته کیږی د اتول دنوی ژوندون زیری اوپیغامونه دی

د دې فطری اوطبیعی انقلاب په رڼا کی پښتون ملت هم وینې شوی اوستر کی غړولی دی ډیر عمرئی د نورو دنفوذ او اثرلاندی تیر کړ خارجی قوتونو ددوی نه رقم رقم فایدی واخستیلې اودوی ئې دانسانیت دتقاضانه خلاف ډیرزیات تباه اوبرباد کړل اواوس دپښتنو دجزر دوره په تیر یدوده . د پښتونخوا په هوا اوفضا کی ملی او قومی چیغی په مد او غورځنګ ګه لیدل کیږی . دقوم په زړونو کښې یوه اراده، په خولو کښې یو آواز او په ارادو کښې یو قوت پیدا شوی دی. دجلا جلا لاسونو او بیلو بیلو اقدامونو دنزدې کیدو او یو ځای کیدو فطری عمل جاری دی- که چیری دصحیح لارښوونکو، دلارښوونی لاندی دیو مشترک قومی سعی او عمل په رڼا کښې په پخه اراده او پوخ عزم تر آخره لاړشی نود کامیابۍ او ترقۍ براوته به خامخا ورسیږی. (رشتین)

دتېرى کښې پاته برخه :

متحده قومونو ددنیا د پس مانده

قومونو دمعاشی ترقۍ دپاره څومره کار کړی دی ؟

دمتحده قومونو تنظیم ددنیا غیرترقی یافته ملکونوته پهخپل اقتصادی پروګرام کښې پههرڅه ترجیح ورکړې ده چهدې ملکونوته زرترزره دخپل معاشی ترقۍ دپاره دڅومره هنرمندو خلقو اونور امداد ضرورتدی چنانچه ددنیا هریوغریب اویسمانده ملك متحده قومونوته پهخپل ملك کښې داقتصادی ترقۍ پهپروګرامونو دعمل کولو دپاره دامداد خواستونه کړی دی اوهریوه ملك ته داقسم امداد ورکړی شوی هم دی - پهدې سلسله کښې متحده قومونو حاجتمندو ملکونوته دیوه ملك دقدرتی وسیلو دجاج پړتال ، اوبونه دبجلۍ وخکو دکلیوالو صنعتونو اواولسی انتظام ماهران لېږلی دی چهدې ملکونوته دژوند پهمختلفو میدانو کښې دترقۍ ارګودر وښیی - علاوه ددې نه دغیر ترقی یافته ملکونو پهسوونو طالب العلمانوته دمتحده قومونو دطرفه وظیفی ورکړی شوې دی چهدوی پرې پهبهر ملکونو کښې مطالعه وکړی دمتحده قومونو تنظیم د مقرره نېټې نه پس دزده کړی دمرکزولو ، کنفرانسونو اوخاصو خاصو جرګو انتظام هم کړی دی چهپهدې طریقه دعلمی تجربو پهذریعه دمعاشی ترقۍ علم خپور شی - داټول کارونه دمتحده قومونو انجمن پهخپله دخپل خاص مقرر شوو ادارو ، اودامداد باهمی پهبنیادونو دفنی امداد دیوه وسیع پروګرام پهذریعه سرته رسوی .

دمتحده قومونو انجمن پهډېر غور او احتیاط دمعاشی ترقۍ دسکېمونو دپاره دمالی انتظاماتو جاج پړتال کړی دی پهدې سلسله کښې دمتحده قومونو دانجمن دماهرانو کمېټو او کمیشنونو دهغو ضروریاتو اندازه لګولې ده کوم چهیوه طرفته ترقی یافته ملکونه بین الاقوامی تنظیمونه او یوطرفته غیرترقی یافته ملکونه پخپله پوره کولی شی اومطلب ئې دادی چه ضروری سرمایه اوسامان پهڅرنګه راغونډولی شی - متحده قومونو دیورپ لاتینی امریکې ، ایشیا او مشرق بعید دپاره درې اقتصادی کمېشنونه مقرر کړی دی - اوداجرګې ددې علاقو دخاص مفادو اودنورو مسئلو خیال ساتی - دایشیا اولری شرق دپاره دمتحده قومونو اقتصادی کمیشن ددې علاقې دګڼو برخو دجاج پړتال نه پس ، پهایشیا اوشرق بعید کښې دتجارت اوصنعت ترقۍ پهحقله ، صلاح مشوره ورکړې ده دې کمیشن دسبل ګرندو پهذریعه دتجارت سوا کولو ، پهلاس دجوړې سامان دپاره دمنډهو لټولو دپاره د تجویزونو دوضع کولو دپاره ، دوسپنې او فولادو دپیداوار دسوا کولو او دیوه خاص مرکزی دفتر پهذریعه پهګڼو ملکونو کښې پهسېلابی اوبو دکنترول اوقابو راوستو دپاره سلا اومشوره ورکړی ده - دلاتینی امریکی دپاره اقتصادی کمیشن ډېر سودمن جاج پړتال رهنمائی کړې ده چهپهدی طریقه دلاتینی امریکې ملکونه دیورپ سره خپل تجارت سوا کړی دتاریز رخت دکارخانو پیداوار سوا کړی - دتعلیمی اوسائنسی سامان سپلائی زیاته کړی ، دخپلی اقتصادی ترقۍ پروګرام تیار ، اوپههغی عمل وکړی - دخوراك اوزمین دارۍ مسئلی حل کړی - اوامریکی ته دلېږونکی سامان پهمقدار کښې زیاتی راولی - دیورپ دپاره دمتحده قومونو اقتصادی کمیشن پروسږکال خاص کوښښونه کړی وو چه دفولادو دپیداوار پهاوچته پیمانه برقرار وساتی دې کمیشن دلمرختیز اوقبلهایز یوروپ ترمنځه دتجارت دسوا کولو اودمسافرو اوسامان دتګ راتګ دپارهئې درسل ورسائل تیزرفتار محفوظ اومکملو

وسیلو له ترممکن حد پورې ترقي ور کړی ده - دمتحده قومونو انجمن دخپل ژوند په اولو شپږو کالو کښې داقتصادی مسئلو متعلق داعدادو شماریو بی مثاله معیار قائم کړی دی - په دې سلسله کښې قائم شوی مرکزونه گردی دنیا ته داقتصادی جاج پړتال او تحقیق دپاره ډېر سودمن ثابت شوی دی - دې کمیشن ددنیا دلویو، لویو اواهمو اقتصادی مسئلو جاج پړتال کړی دی - اوداجاج پړتال په عقل، فکر اوهوښیار توب دمسوده بندۍ اومؤثر عمل دپاره ډېر ضروری گڼلی شی .

د متحده قومونو تنظیم دانسانی ترقۍ دپاره خدمت کړی دی

د ۱۹٤۸ م کال په ۱۰ م ددسمبر دمتحده قومونو تنظیم دانسانی حقونو اولنی عالم گیر اعلان منظور کړ، په دې لوړ اعلان کښې لیك شوی دی - چه هر یو بنی نوع انسان ته غیر دفرق نه ددنیا په هره برخه اوهر یوه حکومت کښې داقسم حقونه حاصل دی - نن دمتحده قومونو اداري دیوه داسی اعلان تیارولو په کار کښې لگیا دی . په کوم چه به عمل کول دهر یوه حکومت فرض گرزولی شی - په دې اعلان کښې د بنی نوع انسان د بنیادی حقونو دحفاظت ضمانت ور کړشوی دی په کوم کښې چه شهری اوذاتی، بنیادی، معاشی، مجلسی او تمدنی، حقونه هم شامل دی - دمتحدو قومونو مختلفې اداري، زنانه ؤ ته دیوه برابر سیاسی قانونی مجلسی، اومعاشی حقونوور کولو په مسئله غور کوی اودمتحده قومونو ممبر حکومتونو ته ئی په تأکید ویلی دی چه هغوی خو په خو یمه په دې سلسله کښې ضروری اقدامات کوی - دمتحده قومونو انجمن داهمودارو درملو تجارت په ډېر احتیاط څاری او په اهمودارو درملو د بین الاقوامی کنترول ساتلو، دهغو ددرآمد او برآمد دطبی، او سائنسی ضروریاتو دپاره اودهغو دپیداوار نگرانی کوی - متحده قومونو په نوې کیمیاوی طریقه دجوړېدونکو داروگانو په پیداوار اوویش، د کنترول ساتلو په عرض یو قانون جوړ کړی دی - متحده قومونو داپیمو اوددې نه په جوړېدونکو څیزونو د بین الاقوامی کنترول مضبوطولو اود کنترول په طریقو کښې د آسانو راوستو په غرض کار شروع کړی دی - متحده قومونو دنسل کشی متعلق یو قانون جوړ کړی - د کوم مطابق چه دنازیانو غوندې دیوه خاص مذهب، فرقې یا نسل خلاف، غیرانسانی اقدامات کول، بین الاقوامی جرم گڼلی شی داقانون سږ کال په جنوری کښې نافذ شوی دی - دشړونکو په حقله بین الاقوامی تنظیم دروان کال یعنی ۱۹۵۱م کال تر آخری پورې د ۱۵ لکونه سوا شړونکی او بی ځایه شوی خلق، یا خو خپل خپل وطن ته واپس لیږلی او یا به دوی دنوی سره آبادوی - علاوه ددې نه په لکونو شړونکو او بی ځایه شویو خلقو ته دې انجمن دخوراك څښاك استوگنې او قانونی حفاظت امداد هم رسولی دی - څه وخت چه د شړونکو د بین الاقوامی تنظیم وجود دروان کال په آخر کښې ختم شی - نو دشړونکو دپاره دمتحده قومونو لوی کمشنر په دا کار په خپله ذمه واخلی اودا کوښښ به کوی چه دشړونکو سره دامداد کولو سره سم ددوی دمسئلې څه مستقل اوقطعی حل راوباسی - دمتحده قومونو تنظیم دفلسطین دشړونکو دښېگړې اوامداد دپاره دوه کروړه ډالره اوددوی دسردوباره ودانۍ دپاره درې کروړه ډالره منظور کړی دی - داټول رقم به د ۱۹۵۲ کال ترجولائی پوری لگولی شی - اودفلسطین دشړونکو دپاره دمتحده قومونو دښېگړې داداري په سر ددې سخت کار سرته درسولو دپاره ډېر مشکلات وړاندې پراته دی - دمتحده قومونو ممبر ملکونو په کوریا کښې داولس دښېگړې اوسردوباره ودانۍ دپاره (۲۰) کروړه ډالرونه دزیات رقم ور کولو وعده کړې ده - متحده قومونو چه خپلو شپاړسو ممبرو ملکونو ته کوم ماهران لیږلی دی، هغوی ددې ملکونو سره داولسی ښېگړې د آسانو اوژوندون کولو په کارونو کښې امداد کوی متحده قومونو دممبر ملکونو طالب علمانو او هنرمنو خلقو دپاره د (۲۵۰) نه سوا وظیفې مقرري کړې دی

چه په دې ددنیا دټولو برخو خلق داولسی ښېګړې د کار په سلسله کښې په خارجه ملکونو کښې د کورونو دماشومانو دخسمانی تعلیم، انتظامی معاملو اونورو خبرو په حقله دنوې زمانې دفن اوښوونې زده کړه ور کړی دمتحده قومونو دخاصو ادارو ددنیا په ګڼو برخو کښې داولس دصحت ښه کولو . اودامی توب ور کولو دپاره اقدامات کړی دی دې ادارو دسائنسی ترقۍ په کار کښې صلاح مشوره دګڼو ملکونو سره دمزدورانو اجرت او مجلسی حفاظت دمسئلو حل کولو په لار کښې امداد اودهر بر اعظم ملکونو ته ئې داقتصادی ترقۍ دپاره قرضې ور کړې دی .

دمتحده قومونو دماشومانو دښېګړې دپاره کار کړی دی

دماشومانو دپاره دمتحده قومونو بین الاقوامی هنګامی پنګې نومې ادارې دنسل، فرقې مذهب ذات اوسیاسی عقیدې له فرق نه غیر دماشومانو دمرضونو دور کولو په خاطر ددنیا په ګڼو برخو کښې ډېر کار کړی دی دې ادارې ته چه دخپل ژوند په اولو څلورو کالو کښې د ٤٩ ملکونو دحکومتونو او ٧٥ ملکونو داوسېدونکو له طرفه کوم مالی امداد ور کړی شوی دی هغه رقم دی ادارې دماشومانو دصحت ښه کولو دپاره دیوروپ ، لاطینی امریکې ، ایشیا او منځنی شرق په جنګ زپلی او غیر ترقی یافته علاقو کښې خرڅ کړی دی په ١٩٥٠م کال یعنی سږ کال به دمتحده قومونو د کلیزې دورځی په سلسله کښې دانسانیت ددې خیر خواه اوخوږ منې ادارې دقیام خوشحالی هم کولای شی .

متحدهٔ قومونو دمحتاجو اولاچارو خلقو خدمت کړی دی

دمتحده قومونو دصوادارو د کوښښونو په برکت نن سیا په نیوګینی کښې په زیات شمار ماشومان دلیکلو اولوستلو قابل شوی دی. ددې ادارو له طرفه دټانګانیکا په علاقه کښې ډېرو ډاکترانو وبائی مرضونه ورك کړی دی دلمریریو تیزو سیمو دټاپوانو اوسېدونکو ته اوس په خپلو سیاسی معاملو کښې دآواز اوچتولو لارښو دلې شوې ده به کېمرون کښې د متحده قومونو دخاصو ادارو د کوښښونو په برکت نوی جوړ شوې سرکونه دعام اولس دمعاشی ترقۍ سبب ګرزېدلی دی داقسم داولس دترقۍ اوښېګړې کارونه په هغو علاقو کښې روان دی. کوم چه دمتحده قومونو په سپار ښتنه کښې ور کړ شوی دی ، دسپار ښتنی دعلاقو انتظام چه کومو حکومتونو ته حواله شوی دی ، دمتحده قومونو دسپار ښتنی قونسل دهغوی دطرفه ددې علاقو په کلیزو رپوټونو غور کوی داقونسل د زرګونو په شمار کښې د درخواستونو تحقیق او بیاخپلی خاصې جرګې دې علاقو ته لېږی ښائی چه دهغو حالات معلوم کړی ، ددې محتاجو اولاچارو خلقو دښېګړی اوخسمانی دغم اوفکر کولو په شا دمتحده قومونو مقصد دادی چه دوی دترقۍ میدان ته ورلنډ کړی او په دې طریقه دوی دخپل ملك دحکومت سمبالو لو قابل شی کومې علاقې چه دخپلو حکومتونو خاوندانې نه دی په هغو کښې د ٦٤ علاقو په مقرر شوی وخت متحده قومونو ته رپوټونه لېږلی دی دمتحده قومونو انجمن بیا په فکر اواحتیاط په دی رپوټونو غور کوی دمتحده قومونو لوئې اسامبلې په دې رپوټونو بحث کوی او ددوی مطلب دادی چه ددنیا ټول حکومتونه او اولس دې د دې غیر ترقۍ یافته علاقو داولس دترقۍ په کارونو کښې هم کردار ادا کړی دمتحده قومونو انجمن دیوڅو پخوانو. نوآبادو دراتلونکی ژوند فیصله کړېده په دې سلسله کښې به لیبیا دمتحده قومونو دیوه کمشنر او کونسل تر رهنمائی لاندې دراتلونکی عیسوی کال د جنوری په اول دیوه آزاد خپلواك

حکومت حیثیت اختیار کړی خوخت چه دمتحده قومونو یو کمشنر ، او داری تریا مقامی حا کمان ددې علاقې آئین تیار کړی نوبیا به اریتریا د۱۹۵۲ کال به ستمبر کښې دابی سینا یا حبشې به وفاق کښې شامله شی سمالی لینډ د۱۹۶۰م کال پورې ترسیارښتنی لاندې دی اولیس ددې بهورته آزادی ورکړه شی ددنیا کومو حکومتونو ته چه دسیارښتنی علاقی حواله شوې دی ، دمتحده قومونو انجمن دهغوی سره امداد کوی چه ددې علاقو اولس زرترزره دآزادی قابل شی ، اوددنیا دنورو آزادو او خپلواکو حکومتونو سره یهیوه صف کښې و دریږی .

متحدو قومونو بین الا قوا می قانون مضبوط کړی دی

دمتحده قومونو دتولنې لوئې قانونی اداري یعنی دانصاف بین الا قوامی محکمی دقومونو ترمنځ دقانونی اخلافی مسئلو فیصله کړی ده مثلا دالبانیې او برطانیې ترمنځه ئې د (Casfuchaunel نومې) مقدمې او د کو لمبیا اویپرو ترمنځ ئې دپناه اخستو اختلافی مسئله حل کړې ده دې محکمی ته دا سی نورې بین الاقوامی غیر فیصله شوی قانونی مسئلې لاتر اوسه وړاندې پر تې دی علاوه ددې د انصـــاف دبین الاقوامی محکمی دمتحده قومونو مختلفو ادارو ته یهمتحده قومونو کښې دنویو ممبرانو د داخلیدو دمسئلو یهقانونی اړخ، دسویلی قباله ئیزې افریقې یه بین الاقوامی حیثیت دصلحې دکتو اوظ نامو دوضاحت اوتشریح اودهغو ملکونو دحیثیت یه حقله صلاح او مشوره ورکړې ده کومو چه لحینې خاصو حقو نـــو دمحفوظ ساتلو نه پس دنسل کشی متعلق د متحدو قومونو قانون منظور کړی دی د قانون بین الاقوامی کمیشن دبین الاقوامی قانون دوضاحت او اسانولو متعلق تر دریو کالو پورې یه مخه کار کړی دی دې کمیشن دهغو اصولو دوضاحت کار سرته رسولی دی کوم چه دجنګی مجرمانو یه حقله دIutgnutn یهفیصله کښې منلی شوی دی او کومه فیصله چه اوس دمتحده قومونو دممبر ملکو نو یه وړا ندی دغور دیاره ته ده دبنی نوع انسان دامن او حفاظت خلاف، د جرایمو دیوی قاعدی مسوده دې قا نون دې بین الاقوامی کمیشن اوس قریبا قریباسرته رسولی ده . (دمتحده قو مونو تنظیم)

علمی پلټنه

آسمان ته ختل

ښاغلی عبدالغفار الهاشمی :

له مصر څخه :

نن ورځ دورې ، هورې خبرې اروو او لولو چه ځینې پوهان غواړی چه آسمان ته وخېژی اود (مریخ) ستوری ته ورسېږی یا په سپوږمۍ کښې استوګنه غوره کا. نوددوې په فکر کښې داده چه داغټ ستوری هم لکه دمځکی غوندې ښائی چه دژوندون اسباب پکښې وی .

نو آیا ته خبرئې چه دامځکه څومره ده ؟

(ښاغلی عبدالغفار الهاشمی)

د مځکې نیم قطر د قطب شمالی یا جنوبی دڅنګه (۳۵۶،۵۵۰) ګزه دی .

د مځکې په منځ کښې نیمه خوا (۶،۳۷۷،۰۰۰) ګزه دی .

د مځکې داړخ محیط (۴۰۸،۰۳۲) ګزه دی .

د مځکې ټول مخ (۵۸۶،۰۰۰،۰۰۰) کیلومتر مربع

د مځکی حجم (۱،۰۷۹،۵۰۰،۰۰۰) کیلومتر مربع

دمځکې وزن (۶،۴۸۷،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) تنه دی .

د مځکې ډول لکه غونډ سکی غوندې دی نو لکه مونږ چه یوستوری په دوربین کښې و ینو که فرضاً یو څوك له ستوری څخه مځکې ته په دوربین کښې وګوری هغه ته به هم دا مځکه دیو ستوری په شان ښکارېږی نو بقدرت د قادر مطلق مځکه هم لکه یوستوری په فضا کښې زوړنده ده او په خپل محور څرخېږی او په کال یو ځل له امره چاپیره ګرځی او لمر په خپل ځای د جهان مېخ غوندې ولاړدی او ځینې پوهان ددې خبرې په عکس تللی دی نو د مځکی هر هغه اړخ او ټوك چه لمر ته مخامخ شی هلته ورځ وی او چه لمر سره مخامخ نه وی هلته شپه وی .

راځیء چه آسمان ته وخېژو :

پاك خاوند تعالی ویلی دی چه (لخلق السماوات والارض اکبر من خلق الناس ولکن اکثرا لناس لایعلمون ط). نوهر کله چه له پیدایښت دانسان څخه د آسمانونو او مځکی پیدایښت خورا لوی اودروند کار دی نو هغه شیان چه په دغو کښې دی هم خورا غټ او درانده ښکارېږی نورا ځه چه زه اوته د آسمان ولورته سره رهی شو هغه لوری هم یوچکرووهو. لمړی آسمان کښې یوغټ ستوری په هره

شپه ښکارېږي چه په پښتو خوږه ژبه ئې سپوږمۍ بولو ددې ستوري (سپوږمۍ) قطر (۲،۱۶۰) میله دی او حجم ئې تر مځکې (۳۹،۰۰۰) پلا وړوکی دی ، د سپوږمۍ ډول (رنګ) تور او لکه هنداره ښویه ده او رڼا ئې د لمر له وړانګو څخه ده څرنګه چه تر مځکې لاندې نه وی دهغه وړانګې ورباندې لوېږي نو هغه تپ چه په تش کتلو سره په سپوږمۍ کښې لیده شي زما په خیال هغه د مځکې عکس دی چه پکښې ښکارېږي لکه چه هنداره واخلې او مثلاً د عاشقان وعارفان دغره په سروخېژې او دهنداري مخ دښارخواته ونیسي وبه وینی چه په هنداره کښې همغسی تپ سره له خوځېدلو د ځینو ژوندی شیانو لیده شي لکه چه په سپوږمۍ کښې ښکارېږي ، داخاصه زما نظریه ده وروسته زما تر تجربې.اوله مځکې څخه دسپوږمۍ لرې والی (۲۴،۰۰۰) میله کڼل کېږي.

په دوهم آسمان کښې د (عطارد) په نوم یو غټ ستوري دی چه قطر ئې (۳،۰۰۰) میله دی او حجم ئې (۲۲) پلازیات د مځکې له حجم څخه دی او وزن ئې (۴۰۰) پلازیات دمځکې له وزن څخه دی او هم له لمر څخه په متوسط ډول (۷۵) ملیونه کیلو متره لرې دی .

په دریم آسمان کښې یو ل ستوري دی چه (زهرا) نومېږي ددغه ستوري قطر (۷،۰۰۰) میله دی او حجم ئې (۹۷۵) ځلی زیات د مځکې له حجم څخه لیدل کېږي او وزن ئې (۸۲) پلا دمځکې له حجم څخه لیدل کېږي او وزن ئې (۸۲) پلا دمځکې له وزن څخه زیات دی اولرې والی ئې له لمر څخه په متوسط ډول سره (۱۰۷) کیلو متره دی .

لمر په څلورم آسمان کښې دی نو قطر ئې (۸۶۵،۰۰۰) میله دی اوحجم ئې (یوملیون او ۳۳۰) پلا دمځکې له حجم زیات دی او دروندوالی ئې (۳۳۳،۰۰۰) پلا دمځکې له دروندوالی څخه تېر دی او لرې والی ئې له مځکې څخه (۹۲،۹۰۰) ملیونه دی .

په پنځم آسمان کښې یو غټ ستوري ښکارېږي چه (مریخ) ئې بولی ددې ستوري قطر (۴،۲۰۰) میله دی او حجم ئې دمځکې له حجم څخه (۱۴۷) پلا زیات دی او وزن ئې د مځکې له وزن څخه (۱۱) پلا ډېر دی او لرې والی ئې له لمر څخه په متوسط ډول (۲۲۵) ملیونه کیلو متر او له مځکې څخه (۳۲۷) ملیونه کیلومتر دی - مریخ ځان ته دوې سپوږمۍ لري د مریخ اولنۍ سپوږمۍ (فوبوس) نومېږي ددې سپوږمۍ لرې والی له مریخ څخه (۶،۰۰۰) میله دی او قطر ئې (۱۰) میله دی . دمریخ دوهمه سپوږمۍ (زیموس)نومېږي چه لرې والی ئې له مریخ څخه (۱۰)زره میله دی .

ددنیا پوهان او علم الفلك متخصصان یقین لري چه هلته به په هو سائی سره ژوند کېدلی شي نو ښائي چه په یوه زمانه کښې د (اتوم بم) په ذریعه هغې خواته رهی شي .

په شپږم آسمان کښې یوغټ ستوري ښکارېږي چه د هغه نوم مشتري دی - ددې ستوري قطر (۸،۶۰۰) میله دی - او حجم ئې د مځکې له حجم څخه (۱،۳۰۰) پلالوی دی - اولرې والی ئې له لمر څخه په متوسط ډول (۷۶،۴۰۰) ملیونه میله دی او مشتري ځان ته څلور سپوږمۍ لري د لمړۍ سپوږمۍ لرې والی له مشتري څخه(۲۰۰) زره او (۶۷) زره بولی - اوقطر ئې(۱۴۰)میله او ددوهمې سپوږمۍ لرې والی له مشتري څخه (۴۰۰) زره او (۲۵) زره میله بولی او قطر ئې (۲،۱۰۰) میله او د دریمې سپوږمۍ لرې والی له مشتري څخه (۷۸،۶۰۰)زره میله دی او قطر ئې (۲،۴۰۰) میله . اودڅلورمې سپوږمۍ لرې والی له مشتري څخه (۱۱۹،۳۰۰) میله دی او قطر ئې (۲،۹۰۰) میله .

په اووم آسمان کښې یو ستوری دی چه نوم ئې (زحل) دی د زحل د ستوری قطر (۵۷،۱۰۰) میله دی - او حجم ئې (۷۱۷) پلاتر مځکی لوی دی او ورن ئې (۲۰۰ تا ۲۵) پلا ترمځکې ډېر دی او لرې والی ئې په متوسط ډول له لمره څخه (نه نیم) پلا زیات دی او له لرې والی دمځکې له لمره څخې .

په دې باید وپوهېږی چه په لوړه فضا کښې نور هم داسې غټ ستوری شته چه له لمر څخه زیاته رڼائی لری لکه (سماکین) او (شعری) چه ددې دوو ستوریو دهر یوه رڼا دلمر له رڼا څخه (۲۰۰) پلا زیاته ده او د (میسیر) دستوری نور د لمر له نوره (۳۰) ملیونه پلا زیات دی- او تردې پورته د (اوانوس) ستوری دی چه قطر ئې (۳،۹۰۰) میله دی او څلور سپوږمۍ لری- او د (نبتون) ستوری دی چه قطر ئې (۳۳،۰۰۰) میله دی او یوه سپوږمۍ لری - او د (بلوتو) ستوری دی چه قطر ئې (۳،۶۰۰) میله دی او نور نور خوراغټ او لری ستوری شته - نو هر کله چه دا معلومات درته حاصل شول نو به لوی او پاك څښتن په قدرتونو پوره ایمان راوړې او وبه وائې چه دازمونږ را لاندې شیان خورا وړو کی نظر وهغو پاس او لوړو شیانو ته- نو ووایه چه (ربنا ما خلقت هذا باطلاط)

تبصره

د مونږ په پښتو ژبه کښې پرته له لمر او سپوږمۍ څخه د نورو نومونه نه راته ښکارېږی چه وی به نو می ځکه د هغو نومونه په عربی ژبه راوړی دی نو ښائی چه یا به په پښتنو کښې علم الفلك رواج نه درلود یا مونږ ته په پښتو سره د هغو نومونه نه دی را رسېدلی .

ښاغلی ننګرهاری :

ښځه د پښتانه کره

ښځه په عمومی ډول په شرق کې د بحث مباحثې وړ او د خبرو اترو کولو موضوع ده مګر خاص طور په پښتون خاندان کې ددې لطیف جسم او رنګین موجود حال ډېر ډېر دژړلو او تاسف کولو دی .

پښتانه علی العموم د ښځو سره نه د آسمانی او شرعی دین د اصولو او مقرراتو احترام کوی او نه ورسره د بشری ټولنې د وضعه شوی قانون مواد تطبیقوی .

ښځې ته پښتانه څنګه کوری ؟

سره له دې چه ښځه په هره زمانه هر قرن او هر عصر کې د خپل خداداد لطافت او نزاکت په وجه چه لکه د « پر پوتی » ګل په لږه تودوخه مړاوی کېږی او په لږو سړو هم غونجېږی د انسان په نوعه کې یو نازولی موجود او دلفریب عنصر دی ، او د نړۍ په هره څنډه کې ئې د مجنون ، فرهاد ، وامق او آدم حان غوندې پتنګان د خپل ښایست او جمال په شمعه سېځلی او وریت کړی د اکثرو پښتنو په کور کې د ښځې د اټول نزاکتونه او رنګینی هېڅ قیمت نه لری او بس د یو حیوان یعنې څاروی غوندې خرڅېږې او اخستل کېږی .

ښځه د پښتون کره په ډېر اخلاص ، مینه او محبت د کور ټول داخلی امور وینځل ، ګنډل ، پخلی چلم او به او د اطفالو روزنه د یوې ضروری او مقدسې وظیفې غوندې انجاموی او په ډېره نرمۍ عجز او انکسار د خپل مېړه او د ژوندانه د ملګری سره څومره چه د ښځې د شان او صلاحیت نه توقع کېږی د کاله نه د باندې چارو کې هم برخه اخلی او د هېڅ قسم تکلیف نه سر نه غړوی ،

ښځه د پښتون کره په ډېر غریب ژوندون راضی ده او تش په یوه خوله خندا دېته حاضره ده چه ډېر زاړه کالی واغوندې او په شپو شپو وږې او نهاره څملی .

ښځه د پښتون کره دې ته تیاره ده چه ډېر طاقت فرسا او درانده امور یوائې په یوائې په ځان ومنی او د مېړه سره د کر کیلې ، لواو لور او د ټولو زراعتی چارو په لارې کولو کې سمه او برابره برخه واخلی او د خپلو نارینه سره یوشان او ږه ورته کړی .

مګر په ډېر افسوس باید ووایو : چه ډېر پښتانه د اټول وضعیتونه په هېڅ تله نه تلی ،

ښځې له د خبرو او سوال جواب کولو حق په کور کې نه شی ور کولی او یقین وکړی د ډېرې جزئی او وړې خطا کولو نه غیر هم ډب د زمکې او ډب د ښځې وی .

ښځه ور کره د یو مملوک مال غوندې ګڼل کېږی او په ډېره ی انصافی د رخدمت د پاره بې بدله استخدامېږی .

ښځه د زیاتو پښتنو کره د شرعی حقوقو (خپل سرنوشت او د ژوند آینده شریک پخپله انتخاب) نه محرومه ده او پخپل هغه تقدیر کې چه تره ، ورور ، او میراث خور ئې ټاکی د شکایت او نارضائی کولو حق نه لری .

ښځه دهري دشمنۍ غوڅولو دپاره عوض کېږي او د بوانسان داحتمالي خطر دلري کولو دپاره دښځې ژوند سرو لمبوته اچول کېږي .

که چېري په کوم اري ځای کې د کوم پښتون دلاسه څوك ومري نو دهغه مړی په جرم کې خور ، اور ، ورېره اوهره دلاس لاندې بېوزلی ښځه د «سوري» په نامه دیو کوری او مو غوښو غوندې ادا کېږي او ور کولې شي .

ښځه دهر موهوم خیال او اشتباه په صورت کې د« تور » په نامه د چرګ غوندې وژله شي او دژوند نه لاس په سر کېږي .

دپښتون دهمدې روئې په وجه دښځو په فطرت کې د خپل طبیعي کمی نه سوا بو څه روحي تنزل هم موجود شوی اوځانونه فطرتاً اوطبعاً دډېرو انساني فیوضاتو اوعطایاو څخه نېهیلي اوبې برخې بولي.

ښځې دا کثرو پښتنو په کور کې دیلار ، تره، ورور ، اومېره دمیراث نه (دشرعي اوبشري جامعې دقانون په ضد) محرومې دی او خپله دوی لکه دنورو منقولي اموالو غوندې په میراث وېلې شي .

ښځه دا کثرو پښتنو کره د کونتون په وخت کې دیوخاروی غوندې ددې دمېره دوارث خرڅولو او دوطن نه لرې وېستوته په غاړه ایښودو بېره ده او هېڅوك نشي کولای چه د هغې سره په نکاح او ازدواج مبادرت وکړی .

لنډه داچه اکثر پښتانه دښځې دحقوقو په مراعات اوبیا د پښتنو خویندو میندو غوندې ښځو سره په حسن سلوك کې قاصر دی اودخدای د اوامرو اودبنی نوع انسان داجتماع دتقاضا څخه پرته اوبیرون چال چلند دښځو سره ساتی ددې ټولو فجایعو اومظالمو وجه بس صرف دپښتون قوم دبې علمی او ناپوهی اثر دی کوندې خدای دوی ته دعلم مهربانی وکړی او داعادات ئې ورك کړی .

ښاغلی غلام نبی د چکتور

رنځور او بندی

رنځور لحلمی په کټ کښې پروت دی ، خپلوانو ، دوستانو دده په علاج کولو کښې هېڅ کمی نه دی کړی خودی چو ړ نه شو ، ډاکټرانو د مرض تشخیص ونکړی شو ، ذ فقیرانو دعا ، دملایانو دمونه مؤثر نه شول - په زیارتونو ښه نشو ، د زړوښځو توتکې ونه چلیدې - د رنځور رحال خراب ، مرض ئې ورځ په ورځ زیاتیږی د خپلوانو تمه د رنځور نه شلیدلې ده د کټ نه ئې چاپېر ناست دی په چو په چو پیا کښې د تولو له ستر گو نه اوښکې توئیږی - د رنځور له خولې نه زړه غوښو ونکی نری زگړوی خیژی او په زگړوی کښې ورووروو لحان سره دالندی وائی :

(دیاولوه که یرې غوړ ښیژه که د آشنادې لحنکدن وی چو ړ به شینه)

په دې کښې رنځور ضعف کوی بیهوشه کیږی ، مورئې چه ز دې سرته ناسته ده گمان کوی چه سا ئې و ختنه زنې ئې تړی - له رنځور نه دبې هوښی چیه لحی ، گوری چه مور ئې شه کوی نووائې . (زه مې مه تړه مو ر کې روح مې معطل دی د آشنا په رخصت لحینه) .

په دې وخت کښې د کلی ملك یو ښتنې ته را لحی چه دا حال وو یئی د رنځور پلاراو مو ر ته وا ئې (دادژ ړ اوخت نه دی . اوس د کین درخت داسقاط دپیسو ، دخیرات د غوایانو غم په کاردی) اونورو نه پسو سپو ری ستو غې وا ئې دبر کلی خیر ا تونه خو ړل خوخه آسانه کار نه دی - لحئی لاړ شی ، تیار غوا یان چیرته واخلی . اوښه مست خیرات برابر کړی . چه د بر کلی الوس ووائی چه شپاړس توتول باخیږی او د ملك صاحب هدایات اوری .

که څه هم رنځور د پرضعیف او دژوندئې آخری ساعت دی خبرې نه شی کولای منگر په زړه کښې بیداردی د گوتې په اشاره حاضرین خپلوانو د کټ دلنگی خواته بلی ، تول ورمخامخ کیږی - رنځور د (عمرئ خدای پامانی او په مخه ښه دپاره دغریوه سره بیل بیل ستر گې په ستر گو کیږی اودا وائی . (چه یې رعیږم هغه ستر گې نه وینمه) ستر گې پټوی او خپل روح د بندی آشنا غیږ ته ور سپاری - انالله وانا الیه را جعون ددود اورواج بندی پیغله دمحیط دناوړه دود او دستور له کبله د رنځور لحلمی یوښتنې ته نشی ورتلای نو په حزین آواز دالندی وا ئی .

(سخته رنځوره خدای دې روغ کړه د رتگ مې نشته دعا کور د رته کومه)

په همدې ډول ددې لندی په تکرار رنځور لحلمی ته دعا او دخپل زخمی زړه تسلی کوی لنډ وخت وروسته د کلی یوورو کی هلك رالحئی اوبوبل واړه ته وائی . فلانی لالا دخیره سره مړ شو دهغه دخیرات دپاره غوایان حلال شویدی مازیگر به غو ړه ښور واخورو) دبد رواج بندی پیغله دهغو ورو کوله خولې نه د ر نځو ر لحلمی په مرگ خبر ښیږی او زړئی لحوښ کوی اوله ستر گو نه ئې داوښکو سیندر وانیږی دا یو هیده چه اوس به ..... ظالم راشی اوله ماخخه به دژړ اسبب ویوښتی اوماسره به ئې لحواب نه وی نود کوټې کونج ته ننوځی اووائی .(ظالم مې هم وهې هم مې ژړاته نه پریږدی) تر دې و ینا نه وروسته یودردمند آخ کوی اودزړه حرکت ئې دریږی او خپل بندی روح د رنځور روح په ملگرتیا سره پاکې او آزادی فضا ته سپاری . انالله وانا الیه را جعون .

دماسپښین ترلما ځه وروسته دوې غبر گې جنازې له کلی نه وځی اودیښتنو په ادیره کښې خښیږی خلك خیرات خوری ، تول اولس دلحلمی دمر گ تاویل دسل په مرض اودپیغلې په غوته یعنی دپیریانو په اثر کوی ، څه موده وروسته د کلی پولیکوال چه د کلی خلکو به ورته لپو نی وایه مری چه د هغه اثاث البیت خوزړې پانې د کښکی قلم ، ماته مشوا نې میراث پاته کیږی چه د حقیقت په هغو زړ وپانو کښې دالیکلی وی فاعتبر وایا اولوالا بصار .

او سنی ادب

ښاغلی خادم

ورسې

له ځانه ځنی تېر شه چه جانان ته ورسې
دویښو په لار درومه چه کاروان ته ورسې

فرهاد شه که شیرین غواړی مجنون شه که لیلی
په ټینګه مسلمان شه چه سبحان ته ورسې

په دغه مذلت کښې ما د شعر زینه ایښی
راځه که یکښی خیژی چه اسمان ته ورسې

دغوث ود اقطاب دعوه به نه څیړو رقیبه!
په تله دیبی که مسلمان ته ورسې

ملا وتړه خدمت ته بیغرض و تعصبه
دقام په مرضو کښې به درمان ته ورسې

خادمه ورته وګوره دردمند درته ولاړ دی
دمینې لاس کړه اوږد چه سیستان ته ورسې

ښاغلی بختانی:

دحق په لورې لاړ شه چه کاروان ته ورسې
قدم ګړندی واخله چه انسان ته ورسې

دزړه دحرارت نه جوړه ګرمه هنګامه کړه
جنت ځنی کار واخله که میدان ته ورسې

تدبیر کښې ښه محکم شه که تقدیر دی ښه سم غواړې
آرا ده الوتل کړه چه آسمان ته ورسې

څوور ځې دی ژوندون خوشی عبث ئې نکړې تېر
فرصت غنیمت بوله چه ارمان ته ورسې

دمینې په اظهار کښې پر وانشته که فریاد کړې
بلبل شه یا بوراشه چه بوستان ته ورسې

په مینه ته دماتو زړو پر دو کښې بنو وځه
دغه ده لنډه لاره چه جنان ته ورسې

دنفس په خواهشاتو که دې بو ځل قدم کېښود
په بل قدم کښې ښائی چه سبحان ته ورسې

مصلح که ته دقام ئې نو اول ځان دې اصلاح کړه
معقول حرکت وکړه چه جهان ته ورسې

دخوف، طمعې، ریاله زولنو نه که آزاد شی
حق غواړه پر وانشته که زندان ته ورسې

ګرداب د مظالمو توره شپه د جهالت کښې
قدم په احتیاط ږده که طوفان ته ورسې

دردمند شه بختانیه په دردونو دوطن کښې
بی درده به دې څه کړو که سبحان ته ورسې (عبدالله بختیانی)

پتنګ:

ښاغلی محمد صدیق پسرلی:

زه مینی په وصل او په هجران کی کړولی یم
ته نصیب د ګلو په باغچو کی کینولی ئی

زه مینی په سر ولمبو دشمعی الېلی یم
ته دعیش ونوش په چمنو کی ګرزیدلی ئی

زه مینی دحسن تناره کی سو ځولی یم
ته سړی وږمی او سړی پرخی ژړولی ئې

زه د محبت په بدو برخو پوهیدلی یم
ته په رنګ وبوی دسرو ګلانو غولیدلی ئی

شرم دی بلبله! له ګلانو نه ژړا مکړه
زما پشانی سوی نه ئی دا دو وا ویلا مکړه

بلبل :

ما دمینی سل بـا به خلور فصله و یلی دی
ته کم ظرفه یوه الـف د مینی سو لحولی ئی

ما دمینی سل زخمه کاری پهزړه خوړلی دی
ته په یوی نـ ری لمبی دشمعی الیـ یلی ئی

مینی بلبلا ن په ع ـذا و بامدی وژلی دی
ته یوه نظر د اشنا هر خه نـه ایستلی ئی

ما سړی تو دی دزمانی دیری لیدلی دی
ته چتی په خپلی خ می مینی نیر وتـلی ئی

شرم دی پتنگه ! ولی ولی ته ښکنځل کوې
خه ته په بیخه یه حرف دز ړو آزار ول کوې

پتنگ :

زه عسکـر صفت یمه طبعه د غا زی لرم
نـه ئی بو الهوسه سرو کار دې ترانی سره

زه چه خدای پیدایمه خوی دسر بازی لرم
ته په ګلو گر زی دالفت لـه بـهانی سره

زه محوه دمینی نورله هرخه بی نیازی لرم
ته خنګه مین کنهی لحان آب و له دانی سره

زه زد گـی له بست و تعلقه نـازی لرم
ته د یار حضور ته ځی له کورو آشیانی سره

شرم دی بلبله ! با سی خوشی مشقت ولی
سو ی مینی نـه ئې ا خلی نوم د محبت ولی

بلبل :

زه یمه شاعر لـه محبته سر و کار لـ رم
ته یوالحی فکر واندیشه د مر کـ وژونداری

زه دزړه موزیم کی دهرخوږو درد یادگار لرم
تهدې په چاتهه کی یو تنها هم دخپل ژوند لری

زه په زړه کی حتی ستاد سولوهم پرهار لـ رم
ته و کړه باور چه نظر ماته ژوند دخوند لری

داغ می پرداغ دومره دی یقین و کړه کیشی شمار لرم
ته په یوه داغ دمینی د و مره سر بلند لری

فرق لـ ری پتنگه ! دشاعر او دعسکر اند وه
لکه په افلاس کی دبا دار او د چا کر اندوه

له خپلو پښتنو ورونو وداع

که لرلهمې خه یوه او که په هیڅ نه یوهید مه
خو بیاهم دملی ژبې له روزو نکو یاد یدمه

خپلې ژبې سره مینه مې لرله له لحوانی لا
چه لیده به مې مړ ژوانده خدا یښ ودیر به لحور یدمه

خه قدر چه ددې ژبې دروزلو حس ژوندی شو
دې خدمت تهاول زه لاس په نامه ودر یدمه

خو کالو نه مې یوالحې په خپل لحان سره روز له
چه په نظم ، هم په نثر تنهازه به گـر یدمه

تر هغه چه دروزلو یوه ملګری نور پیداشول
دهغو په دیر پدلو خورا دیر به خوښیدمه

لنده داچه به خدمت کښې دپښتو شومه سپین ژیری
اوس مې حق دتقا عدؤ په خپل حق ورسیدمه

تأثر سره له خپلو پښتنو و رونو و داع کړم
دا دی لاړم له پښتو تولنې نن وخوځیدمه

دریغه وخت کښې دوداع خو مې تول ونشوای لیدلی
که مې تول یاران لیدی شوای بې لیدونه سهیدمه

دیوزردرې سومدپرش کال دعقرب په خورلسمه
د یار انو له بیلتونه په سرو ستر گو ژړیدمه

گوندې وی چه کله کله ما «قانع» به دعا یاد کا
که له نـیکه مرغه زه دچا په زړه ور گـر ځیدمه

دجوش ملیح آبادی ملاقات

دا ۱۹۵۱ دجنوری یه ۳ دمازیگر په خلور بجې مودخان غازی کابلی سره دجوش ملیح آبادی دلیدو اراده وکړه دزوړ دپلاسی په لور په سروپس کښې کښېنا ستو.

له کشمیری گېټ نه چه تېرشو نوزوړ سکر تریت ته ورسېدو، جوش صاحب په خپل دفتر کې ناست ؤ د آجکل دا داري کارکنان لکه جنگدر نات آزاد اونور ورسره وو، جوش صاحب دهندیو مشهور انقلابی او آزاد خیال شاعر دی د آجکل دمجلې لوی مدیر او سرپرست دی د جوش صاحب سره مونږ یوساعت ډېر خوږ مجلس وکړ، دده په خبره کښې دجوش ذوق شعر او شاعری مستی او نشی نښې نښانې لحلیدی درندانه اومستانه مزاج خښتن معلومېده په شعر او ادب کې دعشقی او تغزلی شاعری طرفدار ؤ، جوش صاحب وویل چه زه یه اصل کښې ایریدی یم، ده د پښتنود تاریخ او نوم سره ډېره مینه درلوده، مونږ دپښتو دادب اوشعر اوشاعری په باره کښې پوره معلومات ورکړل نوهم حیران شو او هم خو شحاله شو دی دمحیط د عمومی ذهنیت داثر یه وجه دار دواو فارسی شاعری د بهتری قایل ؤ، اوفارسی ئې دپښتو په نسبت لطیفه او خوږه کڼله اوخیال ئې کاوه چه پښتو ثقیله او درشته ده ماورته په دې باب کښې دا دوه دلیلو نه بیان کړل:

۱- که دپښتو دثقالت وجه په پښتو کښې دثقیله حروفو (ټ،ډ،ړ) شته والی وی نو دا حروف په اردو، هندی، انگریزی او نورو اروپائی ژبو کښې هم شته. نو بیا یوالحې پښتو ته ثقیله ویل غلط دی.

دهرې ژبې خوږوالی او لطافت دهغې ژبې ویونکو ته معلومېږی خومره چه اردو، اردو والو اوفارسی فارسیو انو ته لطیفه او خوږه ایسی دغسې پښتو په خپله پښتنو ته خوږه او مزه داره ښکاری، یو پښتون چه دپښتو لنډی نه خومره خوندا خلی له بلې ژبې نه ئې هېڅکله نشی اخیستی، دغسې هرچا ته خپله ژبه خوږه او لطیفه وی اودا یونسبې صفت دی یوالحې په فارسی اویا کومې بلې ژبې پورې تخصیص نه لری.

ددې په مقابل کښې ده وویل نو په هند کښې خلك ولې فارسی زیاته خوښوی ماورته وویل ددې دلیل خوښکاره دی؛ فارسی دمغلوپه دوره کښې دهند رسمی او درباری ژبه وه،عزت،ماموریت، نوکری پیسې ددې ژبې په زده کړه پورې موقوفې وې نو په دې وجه دخلکو توجه او احتیاج فارسی ته زیات لیدل کېده، نن پرون چه په هندوستان کښې انگریزی خومره محبوبیت، عمومیت لری اوهرسړی په انگریزی باندې خبری کول فخر کښې ددې وجه خودانگریزی خوږوالی یا لطافت نه دی بلکه لویه وجه ئې داده چه داژ به حکومتی اورسمی ژبه گرځول شوې ده اودنیا عزت، کاروبار تول ددې ژبې په زده کړه پورې موقوف دی دغه حال دمغلو په زمانه کښې دفارسی هم ؤ، پښتو ژبې ته هېڅکله چا موقع نه ده ورکړی نوحکه دنظر نه وروسته پاتې شوې ده. ددې خبرونه وروسته دجوش صاحب تندی وغوړېد او په دې حقیقت باندې ئې سرو خو ځاوه کوم وخت چه ماورته دپښتو دالنډی ترجمه کړه: —

گلان له خاورو پیدا کېږی زما جانان تر گل نازك خا ورو له ځینه

نوده وویل چه پښتو ادب خوډېر نازك اولطیف خیالات لری، بیاموورته دپښتو دادب اقسام، ملی ادب، لنډی چاربیتې، غزلې، دپښتو لومړی شعر اونور بیان کړل، نودده په زړه کښې دپښتو په نسبت څه رڼا پیداشوه اودا آرزوئې وکړه چه تاسې باید پښتو لتریچر په خارجی ژبو کښې هم ترجمه کړی. ماورته وویل چه دا کارزمونږ په فکر کښې دی، مگر تر اوسه مونږ دپښتو دادب دذخیرې جمع کولو په کارلگیا وو، پس له دې به ددغه کار کوشش هم کوو.

(رشتین)

ښاغلی فقیر محمد بای زی

ښار وال او کلی وال

نن مې د ښار د تلو نګل کړی دی کورونه په کلیو او کلی په ښارونو بدل شول ښارونه جوړ شول ، یو ځالی ژوند غوره شو تنظیم ښه شو ، په ښارونو کښې د نظافت او حفظ الصحی مراعات ډېر کېږی ، لوړې ماڼۍ اوږده اوسم سر کونه ، ښی ارتې ښکلې هټۍ جوړې شوې ښاریان د خوب نه پاڅېږی بورس ، کریم ، کیسه ، صابون ، څپونی ورسره یا په کور کې یا د کور خوا کښې تودوبی له درومی بېرته پاك صفا غوړې څڼې خریلی ږیره راوری - کورته لاړشی . په زړه پورې سبا ناری وکړی او د خپل کار په لورو خوځېږی او د ډېرو روپو ګډلی او راګ ئې په ځان وی - بوټ ئې په پښو ، غړوندی په غاړه او ښه ښکلی خولۍ ئې په سروی اې د کوټ خونده ! د شلېدلو کېږیو خاوند ته د قدر په سترګه کوره !

نن ښار له درځی ، او دوړو کی ما شوم په شان خوا ورین دی که جامې ئې شلېدلې او زړې وی ، نو نورې به نه لری ستا ورور دی او د خلاصېدو ترېنه نه ئې اوچه له کوم مېلمه نه نه خلاصېږی هغه ته ډېر ډېر خانده ! که په خېټه وږی دی ، په تن ئې شلېدلې جامې وی ، نو په سیکه سترګه ورته ونه ګورې !

ځکه که دده پورې خاندې . نو په ځان پورې خاندې .

که دده په یا کېدو ستړی کېږی ، نو کر که ترې نه مه کوه کوښښ وکړه چه د نظافت او حفظ الصحې سره اشناشی هوش کوه چه دده شلېدلو خمتا ته سترګې پټې نه کړې او بر بنډ ئې کورته را ونه لېږې ، دی داغی په لطف او مهربانۍ ئې د ځان ګاڼه کړه چه خوشحاله راشی او د وروری او احسان ګاڼه وی که داسې نه کوې نو هم به خدای ته پرئې او هم به د دنیا جغ ستا په اوږه پروت وی - ځکه ته د دنیا سره د سیالۍ خیال په فکر کښی نن سبا روزی ، ما دیا تو نه لنږ ډېر پوره معنویا تو ته دې مخه ده دی بر خلاف په خېټه وږی په بدن ئې شلېدلې جامه ، معناً خبر هم نه دی چه څه کېږی او څه وکړم ؟

که ته ورته تندی هم تریونیسې نو پوه شه دی دې د ځان نه ، بېل او د بېلتانه په تېره توره دې ټپی کړ او د دنیا سره سیالی د ستا او دده د ملګرتیانه بغیر ، ګران او نه کېدونکی کار دی ځکه نه دوږی سرته ډوډۍ لټوله کېږی او نه په تریو تندی وروری او اشنائی کېږی ، نو ته به یوا ځې شې ، او عالی افکار به دې د خاورو سره خاوری شی دده مرګ زما او زما مرګ دده مرګ دی غم "او ښادی مو یو ځای ګاللی او یو ځای به ئې ګالو کله داسی وی چه د غصې نه ورته غاښونه وچیچی کړی خو ورته د کېره غږ نه کوی نو بیا مخ ورته را واړوی اې کلیواله ورك شه ځناوره !

شړۍ په ورو خوځوه دوړې دې جوړې کړې ، اوس مې دا فریقی نه راوستلی ئی ، خوږ دې کړم سترګې نه لری دی دومره فکر نه کوی چه که هغه سترګې نه درلودې ما خو درلودې ، ولې ورسره اوږه په اوږه وجنګېدم مسئولیت د هغه په غاړه واچوې کلیوال بېچاره په زیړۍ تبه اخته شی او ورپېږی ، په خوله څه ویلی نه شی منګر په زړه کې وائی ته چه د غسې مست ګرزې ، دا زما په سر ګرزی

زه یم چه تمامه ورځ خواری مزدوری و کړم او هغه ته دلته تیاره خوري اوچړچی پې کوی د کلیوال غنږدېر زور ور کوی خوځه ویلی شی هودېر خلك شته چه پېزړونو کښې اوسېږی اوچه دشاوخوانه خلك دځه کاردپاره راځی نودوی ورته وائی اې کلیواله ! که د اد کلیوال اوازته فکرو کړو، نو به یوه وخت کښې موږ ټول کلیوال وو چامخکښی اوخوك وروسته د ښارونو ژوند غوره کړ اواوس راته ښاریان ویل کېږی پهدې ونه شوه چه ښاریان لنږ ډېرنن ددنیا دتمدن سره اشنا، اوهغوی گوندې سړی شول هو! ښاریان پهزړه کښې ځای لری، اولنږدېر بیغمه دی، خودلته نور خلك همشته چه ښاریان ورته د کلیو خلك وائی دوی دزړه نه لرې، سر، پښو، کښی اوښی خوا ته او سېږی نه د حفظ الصحی او نظافت مراعات کولی شی، اونه ئې کوی ځکه ښودنه نشته، نه لوړې مانۍ لری اونه ئې پهغم کښې دی سم سړ کوه ئې هغه لیارې دی چه دده پښې پی ځائېږی په کلی کې خوهټی نه وی او که وی هم نو دلیدونه وی اونه خوك ورتلای شی - ځکه هلته ددنیا دمچانو دنماینده گانو غونډه کېږی اومچی ئې پیره دارانی وی کله داخواران دښار دتلو تکل وکړی داخلك چه ښارته راننوزی بله نړۍ ووینی یووارځان پهزرگونو خلکو کښې چه کښته اوپورته کېږی ورك کړی دښار ننداره ئې فکریوسی کله پورته کله کله، ښی خوا، کېږې خواته مخکښی اووروسته گوری پهلیاره و پرېدلی روان وی، ځانته گوری، نوروته گوری فکر کوی، چه دنیا ده خوهمداده، مونږ خوهسې زاړه شوؤ ددې بېچاره دخمتا پیوندی جامی پهغاړه دکېږی پوندئې نه وی، خولی سوری سوری ځانته وائې خوارشی زرددې ځایه ووځه خوك دې ونه وهی اوخوك دې ونه نیسی چه دلته څه کوی هوادی پهدې سودا کې غلی، غلی کېږی دیوه مفشن اومادرن زلمی سره اوږه پهاوږه ولگېږی ددی عاجز خودا زړه له راشی چه دعزرائیل سره اوږه په اوږه ولگېدم حال به مې څه وی ؟ زېړې وگوری، زلمی بی ددینه چه فکر وکړی چه زه اودی دیوې خاوری اوسېدونکی، په یوه جاله کښې سپاره یو.

ښار په کلیو ودان دی او د کلیو دخلکو لاس پولی اودتندی خولې دې چه ښارونه ئې جوړ کړل زموږ ښاریان له بده مرغه دومره فکرنه کوی چه زړه، پښې لاسونه، سرټول دیوه بدن غړی او دیوې سا خاوندان دی - ژوند اومرگ ئې شریك، ښادی او غم ئې یوځای په برخه اوپه یوه نامه یا دېږی، هو !

هغه خلك چه ځانونه دیوې سا خاوندان خپل ژوند او مرگ گډ، ښادی اوغم یوځای تېروی، دهغوی دترقی کاروان، له هغونه چه دافکر کوی، چه ښاریان، ښاریان او کلیوال، کلیوال دی - اوهریو به خپل کار کوی ډېر مخکې تللی دی هغوی نن ساوو، اودوی نن دهغوی د اوامرو جغ په اوږه وړی، پهداسی خلکو کښې چه دا فکرنه کوی چه ښاروال او کلیوال دیوه بدن غړی او لکه څنگه چه ښاریان ددوی په مرسته اوهاند بیغمه شوی اودژوندانه وسائل ورته راغونډ شوی دی، داسی موږ هم د کلیوالو په تعلیم تربیه، حفظ الصحه اونورو ښیگړو کښې هاند او زیاد باسو نو دا خلك زر یاوروسته مخ په فنادی اوهروخت به نوروته اړوی.

ښاغلی غلام محی الدین ایوبی

زما ژوند

هو ! دژوندانه فلسفه می هم زده چه حرکت ته وائی په زیاته بیا په دې عصر کې چه ژوند بیله حرکته هیڅ معنی نلری ،

خو نه پوهیږم چه څه را وشوه او په کوم روحی مرض اخته شوم یا چا منتر او جادو را باندی ویلی دی ؟؟! ولې چه عقل . فکر او دماغ می سالم دی . ځان دلوړ ضمیر او وجدان خاوند بولم ، حواس می هم ټوله پرځای دی او جسمی ناروغی هم راته پیښه نه ده ځکه چه دنورو انسانانو په څېر خوراك او خوب کولای شم په عصری فیشن او موډ کی ترهیچا پاتی نه یم .

لیکن پردې ټولو خبرو سربېره زه هیڅ اراده او عزم نلرم د نفس جلو می بخپل اختیار کی نه دی نو ځکه داخلاقو او تربیی جنبه می بالکل ضعیفه ده او له علم او تربیی څخه همیشه تښتم .... آه خدایه فضل !!

که څه هم زما ژوند ظاهرا منظم او صفا معلومیږی خو دویښی او مدنی دنیا سره ډېر تفاوت لری ، او زه پرخپل زاړه ژوند هیڅ باور نشم کولای ولی چه ؛

تراوسه لازما له دماغه څخه دځان لوېی شوم او باطل خیال نه دی وتلی نو ځکه ځان ترهر چا لوی بولم او نور حقیر شمېرم .

دصنعت ، زراعت یا بل اجتماعی او شخصی کار په کولو سره شرمیږم حتی چه په بازار کی کوم کوچنی شی را نیسم باید نو کرئې تر کوره را سره روړی ولی چه زه په کار کولو شرمیږم .

له کوچنی والی څخه ناز ولی اموخته شوی یم نو ځکه څو گامه هم پیاده نشم اخستلای . که څه هم ټوله پښتانه دیوه پلار او یوې مور زامن دی او د دوی په منځ کی هیڅ فرق او امتیاز نشته خوزه دغلجی ، درانی ، مومند او اپریدی په نامه پښتانه بیلوم او یدغه ناوړه کار هم هیڅ نه شرمیږم .

افغانستان زما خاوره او ښکلی هیواد دی مگر زه به د هغه دپاره څنگه خدمت وکړای شم بداسی حال کی چه د ځان دپاره لاهم خدمت کول شرم او عار بولم .

د پښتونخوا یوه لویه حصه چه پښتونستان نومیږی ددښمنانو په لاس کی ده خوزه د ډېری لټی او بې کاری په وجه دغسی ورته گورم ، او غلیم له خپلی خاوری نه شړم .

ملیت نه پېژنم لیکن د نورو کور کورانه تقلید زما زړه را کباب کړی دی .

خپله ژبه می هېره ده خو د خارجیو ژبو په زده کولو ویاړم !!

د چو کی د ساتلو دپاره ترهرڅه تېریم ....!

دملت نفع می په خیال کی نه ده بلکه د شخصی منفعت دپاره تجارت کوم ...

ښځو ته په هیڅ اهمیت او حیثیت نه قائلیږم خو د کاله ټوله د رانه او سخت کارونه په هغې اجرا کوم او بیله ښځی څخه ژوند هم نشم کولای ... !!!

ددغو څو کرښو څخه زما دژوندانه نوری جنبی هم واټکلوی . و اوس تاسی و وایاست چه زما ژوند څنگه دی او اینده به می څه ډول وی ؛ هو حقیقتا دغه اوسنی ژوند می دیناوخواته بیائی .

آه زما پاك او قادره خدایه ! یا ما ژرله ړی څخه ورك کړه او یا دغه دلټی ژوند می په یوه نوی او ښه ژوند را بدل کړه . هغسی ژوند چه په کښې بالکل برابری عزت ، درناوی او احترام وی .

هغسی ژوند چه په هغه کی کار ، فعالیت قربان او ایثار وی او بس .

دښاغلی عزیزالرحمن « سیفی » په قلم :

دمصریانو په نظر کښی دسویز د کانال اهمیت

له څه مودې را په دې خوا دمصر حکومت دسویز په کانال کښې دبېړو تګ راتګ په دې دلیل دخپل کنترول لاندې نیولی دی چه دا کانال زمونږ خپل ملی مال اوملکیت دی او کوم کار چه مصریان دې اقدام ته اړ اومجبور کړی دی هغه دعربی ممالکو اویهودیانو دمخالفت موضوع ده اومصریان دانه غواړی چه له دې لارې څخه ددوی مخالفینو اودښمنانو ته مرسته ورسیږی ، که څه هم دانګلستان حکومت دمصر ددې وضعیت په مقابل کښې په نظامی مظاهراتو هم پیل وکړ او د خپلو نشراتی وسایلو په ذریعه ئې په مصر ډېرې پټکې هم وکړې لیکن سره ددې ټولو خبرو ددې مطالبې په خصوص کښې دمصر په وضعیت کې کوم تغیر پیښ نه شو او په ډېر جدت ئې خپلو مطالباتو ته ادامه ورکړه . ددې جدی مطالباتو په اثر انګلیسان دې خبرې ته اړشول چه دمصر ددې اقدام په خصوص کښې امنیه مجلس ته شکایت وکړی لکه چه دشکایت نامې دوړاندې کولو په نتیجه کښې انګلستان دنوموړی مجلس څخه په خپل مفاد نظریه هم واخیستله لیکن مصر دغه نظریه دعدالت په اساس متکی ونه ګڼله اودسویز په کانال ئې خپل کنترول ته ادامه ورکړه . دامنافشه څوورځې وروسته تردې درجې سخته شوه چه دمصر دسیاسی مخالفو څخه ناڅاپه دا آواز پورته شو چه باید دسویز د کانال اوسوډان څخه انګلیسان وځی اوهغه معاهده چه په ۱۹۳۶ ع کال دمصر او برطانیی په منځ کښې شوې وه هغه دې لغوه وګڼلی شی او برطانوی قوا اوعساکر دې د کانال څخه خارج شی او همدغه راز د۱۸۹۹ ع کال هغه معاهده دې هم لغوه وګڼلی شی چه دهغې دمخې باید سوډان دبرطانوی سلطې لاندې پاته شی ، ددې پورتنی مرام او منظور دتر سره کولو دپاره دمصر دحکومت له خوا پلانونه طرح اوترتیب شول اودمصر دسنا اودشوراً مجلسونو دمخصوصو کمیسیونو اوهمدغه راز دمصر دپاچا اعلیحضرت ملک فاروق له خوا منظور اوامضا کړی شول دمصر ددې اقدام شاته یوازې د مصر ملت ولاړ نه دی بلکه دعربو دجامعې ټول غړی ددې منظور حمایت ته ملاتړلی ولاړ دی لکه چه پدې وروستو ورځو کښې دعربو دجامعې دسیاسی کمیټې په هغه غونډه کښې چه دسویز د کانال اود عربو دپناګزینانو او نورو عربی ممالکو په مختلفو مسئلو لکه دمراکش د استقلال مسئله اونور شو داخبره هم فیصله شوه چه باید برطانوی لښکرې دمصر نه خارجی شی او که دبرطانیه ئې حکومت په دې خبره اصرار کوی نو په دې صورت کښې به دمصر ټول خلک په دوی اقتصادی بلوکاد شروع کړی اوله هرې خوا به ورباندې دضروری موادو اودخوړلو دشیانو دورتللو لارې بندی کړی او که د مصر یو ډېر معمولی شخص دانګلیسی عساکرو سره یوه ډېره جزوی مرسته هم وکړه اوهغوی ته ئې کوم ضروری مواد اودخوراک شیان ورورسول نودغه راز اشخاص به دملی خیانت په جرم اعدام اودمصر د تابعیت څخه به محروم کړی شی . لیکن سره ددې ټولو خبرو او اصرارونو دانګلستان حکومت دې خبرې ته حاضر نه شو چه دسویز په کانال کښې دخپلو امتیازاتو څخه لاس واخلی دانګلستان دې کار اور ویې دمصر دخلکو احساسات په حرکت راوستلی اوپه تیره بیا دامنیه مجلس دې فیصلې چه باید دمصر حکومت دسویز په کانال کښې دبېړو په تګ راتګ کښې مداخله ونه کړی دمصر خلک ډېر په قار

اودې مطالبې ته ئې اړاو مجبور کړل چه د سویز د کانال د کنترول د آوازنه وروسته ئې د نوموړو معاهدو دالغا آوازونه هم پورته کړل ؛ دغو پورته ذکر شوو جریاناتو او د مصر دغه وروستی تصمیم د انګلستان سیاسی محافل وارخطا او ډېر پریشان کړل لکه چه د لندن د چارو پوهانو وویل چه د دې حاضر او موجوده عصر په تاریخ کښې دا خبره نده لیدلی شوی چه هغه قرارداد ونه چه د دوو مملکتو په منځو کښې شوی وی په یوه او یا دوو میاشتو کښې لغوه کړی شی ځینې مبصرین وائی چه هم د انحاس پاشا د مصر صدر اعظم ؤ چه د (۱۹۳۶ع) کال معاهده ئې د برطانیه ئې سره امضا کړه او نن دی غواړی چه د خپل اقدام په اثر هغه لغوه کړی دې خبرې د نړۍ د مبصرینو توجهه په مخصوص ډول ځانته جلب کړی ده ؛ د دې موضوع په شا او خوا کښې د ډیلی تلګراف ورځ پاڼه چه د انګلستان د محافظه کارو د ګوند ژبه ده لیکی چه مصر په دې کار کښې د ایران پیروی کړی ده ؛ دغې ورځ پاڼې د انګلستان حکومت د تنقید لاندې نیولی او ویلی ئې دی چه هر کله موچه د ډاکټر مصدق د یوه فرمان په مقابل کښې د نوموړی دولت ټول منافع پر ښوده نو یدې خبره کښې شک نشته چه په منځنی شرق کښې به هم د برطانیې ډېر منافع د خطراتو سره مخامخ شی د دغه اخبار او نورو اخبارونو په جواب کښې هر برټ موریسن د برطانوی حکومت خارجه وزیر په خپله یوه انتخاباتی وینا کښې وویل څنګه چه برطانیې آبادان خوشی او تخلیه کړ د سویز د کانال منطقه به خوشی او تخلیه نه کړی او د سوډان په خصوص کښې به هم عمومی آراؤ او د سوډن د ګورنر جنرال نظریې ته مراجعه وکړی شی ؛ په هر حال د جریاناتو څخه څرګند ېږی چه مصر د برطانیې د ټولو پیش نهادونو په مقابل کښې ټینګ مقاومت کوی او په خپلو پورته ذکر شوو ټولو مطالباتو کلک ولاړ دی .

په دې موضوع کښې د مصر حکومت تر دې اندازې ټینګه اراده کړې ده چه هر کله د امریکې او فرانس او ترکیې حکومتونو د مصر حکومت ته د منځنی شرق په دفاعی نظام کښې د یوه مساوی الحقوق غړی په حیث د شمول دعوت ورکړ نو صلاح الدین بی د مصر خارجه وزیر د مطبوعاتو نماینده ګانو ته په واضحو الفاظو کښې وویل چه د منځنی شرق په دفاعی نظام کښې مصر ته د شمول پیش نهاد او د مصر او برطانیې د معاهداتو موضوع د سویز د کانال او سوډان په خصوص کښې هره یوه جلا او ځانته موضوع ده چه د یو بل سره هیڅ رابطه نه لری . څو ورځې وړاندی د برطانیې لښکرې او د ځینو سیاسیونو په عقیده د انګلیس او امریکې د واړو دولتونو مشترکې منظمې لښکرې د سویز د کانال په منطقه کښې ورننوتلی د برطانیې حکومت په دې پلمه چه د مصر حکومت د سویز په کانال کښې د برطانوی تبعې د مال او ځان حفاظت نشی کولی نو خپلو بری او بحری او فضائی لښکرو ته ئې امر ورکړ چه د کانال سویز په منطقه کښې د اخلی شی او په دغه منطقه کښې مهم ځایونه د خپل کنترول لاندې ونیسی ، لکه چه په دغه اړو دوړ کښې بوشمیر مصریان هم ووژلی شول او د مصر حکومت ته ډېر مالی تاوان هم ورواوښت که څه هم د مصر خلک د متجاوزینو په مقابل کښې ودرېدل لیکن د بین المللی امنیت د ساتنې په لحاظ د مصر حکومت د صبر او حوصلې نه کار واخیست که څه هم تر اوسه انګلیسان بیا بیا داچیغی وهی چه د سویز د کانال په منطقه کښې کراره کراری ده لیکن د نورو منابعو د اطلاعاتو څخه معلومیږی چه د مصر په ټوله خاوره کښې ځای په ځای ننګیالی ځوانان د وطن د دفاع د پاره راپاڅیدلی دی او په ډېره میړانه د متجاوزینو سره مقابلې کوی لکه چه معلومه شویده د مصر د حکومت له خوا د مصر خارجه وزیر صلاح الدین بی

ددې دپاره تعین شوی دی چه دعمومـــی اسامبلې په هغه غونډه کښې چه داکتوبر په ۱۹ نیټه به په پاریس کښې غونډه کـــوی دخپل حکومت شکایت دبرطانوی حکومت دهغه تجاوز په اثر چـه دمصر دحکومت په حقوقونی کړی دی، امنیه مجلس ته وړاندی کړی، اوپه دې ترڅ کښې دمصر حکومت هغه مکتوبونه چه دمصر او برطانیئی پـــه منځ کښې دمصر څخه دخارجی قواؤ د اخراج او دنیل دوادی دوحدت په شااوخوا کښې تللی او راغلیؤ دخپلو مطبوعاتو به ذریعه نشر او خپاره کړل مگرسره ددې هم دبرطانیئې حکومت داعزم کړی دی چه خپلې لښکرې سوډان ته ولیږی او بـــرسیره په دې دبرطانیې حکومت ډیرو جنگی جهازونو دمصر په اوبو کښې لنگرونه اچولی اوولاړ دی،

په هرصورت په دې ورځو کښې د برطانیئې نظامی قوماندان دسویز په کانال کښې اکثره کارونه په خپل لاس کښې نیولی اودخپل کنترول اومراقبت لاندې ئې راوستلی دی، مگر په هیوادمین اشخاص دبرطانیی په مقابل کښې هرډول مجاهدې اومقابلې ته حاضر اوآماده دی، اوپه دی ډول ئې دبرطانیی په خلاف هرډول مقاطعه شروع کړې ده، اوداسې ورځ نه وی چه په اکثرو ځایو کښې قتل اومقاتله نه پیښیږی لکه چه د فایف، اوپورټ سعید، په منطقو کښې هره ورځ ډیرې زیاتې مظاهری کیږی اوپه دی مظاهرو کښې دمصریانو او برطانویانونه نفری مری اوپ ژوبلیږی اودحالات ورځ په ورځ خرابیږی!

مرحوم غلام صدیق خان مومند

مرحوم غلام صدیق خان د مرحوم محمد جان خان لمسوی په خټه انمر خیل مومند او په ۱۲۷۵ شمسی کال د ننګرهار په ګوشته نومی ځای کې زېږېدلی دی . د ده خپل تحصیلات په خپل کور کښې د شخصی معلمانو څخه تکمیل کړی او د خپل عمر په ۳۵ کلنۍ کښې ئې د فقهې او نور متداول کتابونه ویلی وو مرحوم غلام صدیق بوډه او هوښیار سړی ؤ او د پښتو ملی جذبات ئې لرل لکه چه د ده په شعر او ادب کښې هم دغه ملی جذبات په ډېر ښه ډل څرګند وو ، دی د خپلو دغو معلوماتو او ملی جذباتو په اثر په ۱۳۰۹ شمسی کال کښې د حکومت له خوا د صوبه داری په رتبه مقرر شو چه ینګوس تنګه زیر د ستان ئې درلودل دی مرحوم پلار د مومند و د فام یو مشهور خان یا د ده او فامی غوټې په وریاندې کښې لې او هر کله چه په ۱۳۱۵ شمسی کال کښې د ده پلار وفات شو نو فام په ده باندې د خپل ادمشری دعا وکړه د ده د حکومتی او فامی چارو په سمولو او فصله کولو کښې لوی لاس درلود دی مرحوم د ملت او حکومت د پاره د قدرور خدمتونه کړی دی او د ټولو رضائې حاصله کړې ده په ۱۳۱۶ شمسی کال کښې د ده د صوبه داری د څخه استعفی وکړه او په خپلو ملی چارو بوخت شو ، غلام صدیق خان د څه لیکلو شوق هم درلود او د پښتو په نثر او نظم دواړو کښې ئې ګڼې مضامین لیکلی دی ، د ده د پرشعرونه د هېواد په مطبوعاتو لکه د کابل مجله او اتحاد مشرقی او هېواد او نورو کې نشر شویدی ، دی مرحوم د پښتونستان په ملی مجاهده کښې هم بوره برخه اخیستی وه او د دې مسئلې سره ئې ډېره مینه درلوده دا مرحوم د ۱۳۳۰ شمسی کال د جوزا د میاشتې په ۹۵ نېټه د ۴۵ کالو په عمر د کابل د قوای مرکز په شفاخانه کښې وفات او د متبوعه قدردان حکومت له خوا په ډېر عزت خپل کلی ګوشتې ته یوړی شو او د خپل پلار نیکه په ادیره کښې ښخ کړی شو ، اوس د ده د اشعارو یوه څو نمونې ولولئ .



ښاغلی غلام صدیق خان مومند

(۱)

د شهیدانو امید

د مغلګی شهیدان دی په انتظار پښتو نه
کسات می وا خله د دښمن نه ذمه وار پښتو نه

که میرویس خان که احمد شاه که خوشحال خان دی همه
دا در ته وائی چه نور مه کوه مدار پښتو نه

د د ایمل خان ، او د د ریا خان ، لښکرې بیا جوړی کړه
سره بیر غو نه د خیبر په لویه لار پښتو نه

د مستبد ظالم دلا سه زخمی شوی په زړه
د چارسدې میدان د دښمن کړو لاله زار پښتو نه

راشیء درسونه دحمید او درحمان ولو لـیء
صبح صادق دی را ختلی شـه بیدار پښتو نه

دا عبادت دی چه رواحق ځـا نته خپل وګټو
داسارت جامې کړو څیرې شور ویدار پښتو نه

آخر به ویښ شي اول ویښ شه چه موقع تېر ېږی
دغلامۍ نه کرکه و کړه شـه بـا دار پښتو نـه

دپښتنو تـولوا کی تېر له مال اوسره په مونږ
راځیء چه یوشو دوحدت و کړو روز ګار پښتو نه

لـکه شیرشاه قصورخپل واخلو همایون نه په زور
بـا بردی کړی ابرا هیم لودی ته قار پښتو نه

راشیء په جمعه پسې پاڅو زیا تی ډیل نه کوو
دا مستبد پا کستان ژر کړو شر مـار پښتو نه

سرمشق دټولې آزادۍ دهندیو مونږ پښتا نه
دپښتنو په غاړه بد ښـکا ری زنـار پښتو نه

راځه پښتو نه چه آزاد کړو دشمشیر په څو که
فخرافغان اوډا کټرخان غوندې سردار پښتو نه

(۲)

جام جم

زه جام جم کی دخاطر همېش فکرونه کوم
د مصفی صفحې نـه هسې تعبیر و نه کـوم

پښتو نستان به وی ترهغې څو دنیاوی جوړه
زه دصا دق نیت درو په تصدیقو نه کـوم

د سر حدی رنځور مرض ته خونریزی ده دوا
زه دلقمان په آئینه داند بیـرو نه کـوم

دمغلګۍ اوچار سدې شهید مې نه هېرېږی
زه به دافکر همېشه ساړه آهـو نه کـوم

فیصله دغه ده چودری یا په وطن راپرېږ دی
یا به دې سرباندی زمری غوندې دانګو نه کوم

زه دمثبت پښتو نستان قیام په سترګو وینم
زه مومند ځکه ترینه مخکې تا ویلو نه کـوم

(۳)

دپښتو نستان جهاد

❀ ❀ ❀

پښتانه واړه قربانۍ لره خپل ځان جوړوی
بیا په مغلو زما نه دخو شحا ل خان جوړوی

دوحدت نوی سامانې دی «ایمل خانه» راشه
پښتا نه بیا دخیبر لارې ته کاروان جوړوی

هغه دره چه تا سره کړې دمغل پـه وینو
پښتانه بیا پـه هغه ځای نوی نشان جوړوی

پښتو نستان بیرغ هرځای په لوړو غرور پېږی
نن پښتنو له نوی کور ظاهرشاه خان جوړوی

شاه افغـان دپښتنو افتخا رو نـه ګـټی
تل وران کارونه په اولس کښې مشران جوړوی

همت ئې لوړ دی ځکه کاردسکندر کوی تل
غلام صد یـق بـې تملقه دا بیان جوړوی

لـکه بو ډۍ په مشو ړویم دیوسف خریدار
دردد اولس له درد مندانو شاعران جوړوی

خوشحال خان ختك څه وائی؟

(۲۱ برخه)

بل ځای ددې جهته چه د پارسی خبرو تر اثر لاندې رانشی حتی د محبت په دنیا کې د خپلې مغلګۍ یاری سره پارسی نه وایی او ځان ورته یو ساده پښتون جوړ وی، ورته وایی:

ما ساده پښتانه څه زده چه ئې وایی په پارسی پارسی خبرې مغلګۍ؟

که نه وی په پارسی ژبه ښه پوهېده او ښه شعرونه ئې په کښی ویل، خو نه ئې غوښته چه تر پښتو د مخه پارسی ته خدمت و کړی، وایی:

په پارسی ژبه مې هم ژبه ګویا ده په پښتو ژبه مې خلق بهر مند کړه

ده په پارسی کښې هم شعر ویلای شو، خو خوشحال خان پښتون ؤ، د پښتو ژبې د خدمت زحمت ئې پر ځان قبول کړی ؤ، او نن د پښتو ژبې دنیا دده په اشعارو روښانه ده او د خپل پښتنی عزم او همت په برکت ئې پښتو هغه ځای ته ورسوله چه سل سړ بنی تر خپلې یوې غزلې جار وی چه وایی:

سل سړ بنی دې تر یوه غزل ځار ېږی
نن چه دا پښتو ده کرلانی خوشحال ویلې

بل ځای پښتو د پارسی سره برابره بولی چه وایی:

چه خوشحال ختك ئې وایی په پښتو ژبه خبرې
په پارسی ژبه به نه وی که پوهېږې سخن هسې

او دا ځکه چه پښتو ئې له هره بابه غوښته پارسی ته ورسېږی او دعوه کوی چه رسولې ئې هم ده، وایی:

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کښې
پښتو ویل مې عین تر پارسی دی رسولی

پښتو ژبه مشکله، ددې بحر مو نده نشی .

هم ما لره یو څو بحره په ډېر منښود راغلی

دانا به پرې پو هېږی دنا پو هو کار پرې نشته

دادر چه دبیان په تار خو شحال خټک پېیلی

کذاب دی که داشعر لکه ده پښتو بیان کړ

که هسې ویل اوس شی یا پخوا دی چا ویلی

بل ځای په خپلو پښتو اشعارو داسې فخر کوی :

په پارسی ژبه که نور ترما بهتر دی

په پښتو ژبه مې مه غواړه مثال

یا دا چه :

و پښتو ژبې ئې ډېره خوبی ور کړه

چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

یا دا :

د خوشحال خټک په ژبه بر کت شه

چه ویل کا به پښتو له هره بابه

مګر په عین زمان کې دې پروا پښتنو څخه ډېر کله من دی چه دوی

خپلې ژبې ته تو جه نه کوی او په خپله پښتو نه پو هېږی ، دی وا ئی :

که زما ژبه پښتو وده په پښتو وا یم خبری

پو پښتو ن را نه ښکا ر ېږی چه پرې پوه شی نژدې لری

په خوږ والی کې ئې فرق دی ښه تر ګوړو دی شکری
ګبینه لری مچیه ډنبګی لری بنبری
له یوه دریا به خېژی مرغچیچې مرغلری
تفاوت ئې تر منځ ډېر دی په قیمت دی سره لرې

په دې ډول د پښتو خوږ والی پای ته رسوی اوله دی ټولو څخه د خوشحال خان غرض همدا یوه جمله ده چه پښتنو ته وایی :

« خپله ژبه مه هېروی »

خوشحال وایی :

(۱۰)

«ما هلته ښخ کړی ٔ چه د مغلو سیوری می پر خاوره ونه شی او د مغلو د سپرو د پښو گرد می پر هدیره ونه لوېږی!!»

دا د خوشحال خان هغه وروستنی وصیت دی چه د ۷۸ کالو په عمر په ۲۸ د ربیع الاول په ۱۱۰۰ هجری کال ئې د وفات په وخت کړی ؤ گویا خوشحال د مرگ په حال کې هم پښتنو ته د پښتنی ننگ او پښتنوالی درس ورکړ ، چه د پښتنو مړو پر هدیره هم باید د پردیو سیوری او د پښو گردونه ونه لوېږی او یو پښتون مېړه باید په مرگ هم ټیټوالی او مغلو بیت خوښ نه کړی اوس نو د پښتنو اختیار دی چه د خوشحال خان دا قیمتی وصیتونه پرځای کوی که نه؟! او دده گټو روو ینا ؤ ته غوږ ږدی که یه ؟؟

« بینوا »

کابل ـ څلرمه کارته ـ

د ۱۳۲۷ ـ د جوزا د ریمه

د عبدالحمید مومند دیوان

(۱۰ برخه)

څه عنقا شوې زما مراده — چه دې یافت شو بې بنیاده
د تدبیر د دام له لومې — لکه باد هسې آزاده
په طلب مې دې ښند نه — شوه د سر او مال بر باده
آه زما بر گشته بخته — بې وفا بې اعتماده
دا در شو (۱) چه دې اشنا کړ — پریزادله آدمزاده
دا در نشی چه د وصل — ښادی ورو ډې تر ناښاده
په ژوندون ئې لکه مړی — وو ېستم د یار له یاده
د فلك په څېر یك لخته — ستمگر مه شه بېداده
څه خو څه خود مه را کړه — ما لره له آه فریاده
کړه په مایوه ښېگړه — داشناد وصل زیاده
گاه گهې مې زړه خاکی کړه — د غمو نوله فساده
څه نکتې تلې سوزانې — بې سنده بې استاده

د حمید رښتینی عشقه
په هر علم کښې استاده

سر مې هسې بهروز دی ستا له درده — چه بو څخه د در گوهر دی ستا له درده
غیر فکر دوزخی شی په کې سوځی — زړه مې گرم تر سقر دی ستا له درده
سر تړونی نوې میاشت تر سر جارباسی — دهر ښکلی در د په سر دې ستا له درده
یوز گېر وی دی په مسجد په میخانه کې — مسلمان دی که کافر دی ستا له درده
د ژوندون کوتاه شپه را باندې کال شوه — گوره مرگ را ته اختر دی ستا له درده
تل مې تن لکه د پنډ هسې اېشېږی — پروت په تبه کې بشر دی ستا له درده
څله کړې دارو درمان زما وداغ ته — داغ مې کله مرور دی ستا له درده
د مرهمو غمازی به ئې بېل نه کا — چه مې خوا په خوا پرهر دی ستا له درده

د حمید دنار وویار مکړه د لبره
هېڅ په خود نه دی او تر دې ستا له درده

---

(۱) یعنی دادې دلاسه کېدل.

اندېښنه مې دهجران شوه په زړه پنډه — ځکه ساه را څخه خېژی لنډه لنډه
دا شنا دهجر هسې بد خبر دی — لکه ور غړی په سرد چا کړ کنډه
په هوس به مې سرنه وی پورته کړی — که خبر وی د غمو نو له غو یمنډه
مینه ماته کړی تو به دسلو کالو — د سېلاب له مخه و بهېږ ی ډ نډ ه
اوس په څیرې ګرېوان مینه کړم په ښکلو — چه د عقل ستن مې ووته له ګنډه
چه سا تلی دچا زړه په مېوه نشی — ده تر سمې سر وې ښه کېږه ارهنډه

په لباس د ښکلو مه غلېږ ه حمیده
له ثمره وی خېر ا ز ه ونه شنډ ه

د بو سې په هو س غم کړم ر بو د ه — بد بختۍ مې وویست غاښ په پالو ده
چه په وصل مې دارود هجر نه شی — دا په څه تو ره بلا شو م آ لو ده
نور به څوك کاندې زما ګرانۍ اسانې — چه مې خضر اخستی نه شی هو د ه
نه ده عشق هسی کو تاه تنسته ا یښې — چه پوره ئې کړم په سر اومال بو ده
نن ساعت دعا شقۍ په کارو بار کې — مجنون نه ګنم ترځا نه آزمو ده
په مدد ئې ستا دغم کړم تر پښو لاندې — که مې غم شی دجهان په سرتو ده
چه ئې نال دلېو نتوب نه وی وهلی — هر سمندد عشق په زمکه شی سو د ه
څوك دې ویاړ زما دحال نه کړی په عشق کې — سمند ر په ا و ر کې او سی آ سو ده

چه په عشق کې کامرانی غواړې حمیده
څه څه وا ئی چرته تللی ئې اوده

چه ئې سپك کړی عاشقی لکه بڼه — هغه کس تر کوه قا فه د رو ند ګڼه
چه ایرې د بېقد رۍ شی پرې مښو دې — آ ئینه د هغو ز ړ و نو و ی ر ڼه
له دانا سره نادان که وچې پوچې — هېڅ به پټ په تر پومات نه که چڼه
له کینې په بینا ستر ګو شنوا غو ږ و — د عیسی په د م قد م ړ ند ه کڼه
که څوك نه پټوی ستر ګی په حرا مو — شی په پښو کې پېژ ندی پرد ۍ پڼه
دا چه نن بڼې بڼې په زر که ناست دی — د غه با ز به که بر ګوت (۱) بڼه بڼه

چه حمیداوږد وی لاس دیارزنخ ته
کشکې ښاخ دولې ونیسی مڼه

---

(۱) بر ګوت ښائی چه ګوربت (عقاب) وی .

ستاله غمه‌مې په‌سر کې دی‌شور هومره — چه‌به نه‌وی هر گز شوردلا هور هومره
هغه کار لکه ستامینه په ما کا ندې — په‌وچ کك باندې به‌نه کاندې اورهومره
لکه زه د استاد مینی په تور نیو شم — نشی نیو څوك دشا هانو په تور هو مره
دغه خپلو اوزد و ز لفو ته نظر کړه — حواله‌مې په زړ گی دی منگور هومره
چه‌په ما ستد مانې کانې پر ېبا سی — کانی پرېوزه دغمازو په کور هومره
لاسیده نه وی پخلا بیا مر و ر شې — شابس شابس عدل هومره اوزور هومره
دلمدوختو دار و لېزې او بـه دی — از مېپی را باندې څه لره زور هومره
فر ښتې د سپی له بو یه لرې گرځی — له رقیب سره ئې ولې خمسور هومره

څوئې نه دی ستا مړ و ند سر و یېز دی کړی
خدا ی دې سرد حمید نه کا په گو ر هومره

په‌حرص که مخ دزمکی کړ ی پر ه — را به نه و ړ ی تر نصیب ز یا ته ذر ه
په اسره پسې ډېر مه زغله هوښیارشه — په ا سر ه ا سر ه سړ ی شی مسخر ه
وزی تېزی ناست پخپل اند یری ښه‌ئی — نه په تخت د پاسه نا ست د بل کره
د منت پولا و دې ز هر شه چه مو مې — دمحنت سوی سو کړك د سا گ سره
دنمرود ما شی قصه کړه در په یا د ه — که هرڅو ئی پخپل ځان با ندې غره
کړه دمچ له‌بو نهاری کة هو ښیارئې — د ز مر ی د تـنـهـا ر ی تـر ا ر ه
هغه دم بر و د ما غ د سـواره در شی — چه دې برشی لاس په تانگ په‌خرخره
له دې خپلې مغروری دسپی لکی شوې — زه دې خو ان ته بولم ځی ډېران لره

ځکه شعر دحمید په گو تو ښو شی
چه ئې عشق په سر کې کېښوده طره

د فلك په گرد شو نو کې پیر گو ره — د گیدړ په خوشـا مندو کې شېر گو ره
که نظر دی د یقین لرې ښکارنه کا — دا په څنگ پورې میشته په ځیر ځیر گوره
په‌غرور دتوان تېری په‌ناتوان‌مه کړه — چه د منه توله سپکېږ ی په سیر گوره
چه‌پیشوشی ډېره گیره‌په‌سپی تو پلی(۱) — ډېر په ظلم کې څوك‌مه لره کیر گوره

---

(۱) په چا پی نسخه کې تر پلی را غلی دی .

ماشی مړه کاندی هاتی چه سره تول شی — په یوه وجود سپك مه ګڼه ډېر ګوره
لږې لږې او به تولی شی ملك وران کړی — په لږ جبر چرې نشی د لېر ګوره
په نیمګړی داد د د هر مه نا ز ېږ ه — په ګړی کې سپینه ورځ کړی اندیر ګوره
ته هم هسې تېر و بېرز غمه د خلکو — لکه خدای زغمی داستا تېرو بېر ګوره
له دښنه امان مو نده په عد وان نشی — داحسان کلا ترځان کړه چاپېر ګوره
که دزرومړ وزور لرې په ځان کې — د زېر دستو په شېوه او سه زېر ګوره
لکه و ړ ی ګوی له مید انه پڅه ژبه — نشی وړای په تېره کړی شمشېر ګوره
هرنفس چه د غصې نغرې سود منددی — وروسته خوند کړی له شکرو ګنډېر ګوره

قد ر د ا ن جـو هر ی بـو یه چه ئـې ا خلی
حمید څه د رو ګو هـر کړه بر څېر ګو ر ه

له غمـزو دتو رو ستر ګو نـظر ژ غوره — په وښ کـلو تورومه خېـژه سر ژغوره
عشق ته هېڅ نه دی پرهېز دسلو کـالو — له هـزار منه پنبې یـو شـرر ژغـوره
عـا شقـی ستـا د بـشر د خـطر لارده — دخطر په لاره مه ځـه بشـر ژغـوره
مینې ډېرساده صوفیان دی رندان کړی — غرونه غرونه یخ له مخه دلمر ژغوره
بل هنر به دې په کـار نشی په عشق کې — بارې یـو د بې خودی هنـر ژغوره
آه سر دنوی میـن لـره ښـه نـه دی — له تازه پرهاره باد د کو سر ژ غوره
لکه ځان ژغوری بربنډ له تېرو تورو — هسې خپل سر له ښېرو دسحر ژ غوره
عاشقی پـه خـود رایـی سره نـشی — په دالار کښې دم قدم بې رهبر ژغوره

کـه په رو دیارد مـخ ورغـلې باده
دحمیددمراددې زړه کښې خبرژغوره

نن دې بیاحسن جلوه که لاس په توره — ګوره بیابه کـا په چاباندی موربوره
څه دې خلك په دامړاؤ کتو غوڅ کړل — ګرځوې سسته لینده په شست مغروره
چه داستا نـکته د انی ته نظر و کړی — افلا طون شی حیران پا ته بې شعوره
له حجا به دې جمال هسې جلوه کا — لکـه سره لمبه چه خېژ ی له تنوره
په ضرور زما د مینې وا ز ما یـه شی — چه مې هسې بې پر وائې لـه ضروره

زه دشمعي په څېر اور په تندی بل کړم — ته دصبح په څېر خاندې له غرو ره
که هر څومې دحیا په حجاب نغښته — عا قبت مې عاشقی شوله مشهوره
هرساعت پکښې ناحق خو نونه کېږی — دخاطر کشور مې ډك شوله فتوره
هر چه کېږی خود کرده په حمید کېږی
چه خبر ؤ دخو با نو له دستو ره

وه دمینې کاروباره — دسولۍ په سر روز ګاره
تر سبزه لا ندې کو هی — دبستر دپا سه خا ره
دخود رای د پوزې نته — دسر ګښو د سر با ره
دبې غم دزړه په خونه — د محنت بلا ګو ما ره
لکه زهر په شربت کې — دلا رام او دل آزا ره
وخو بانو ته رهبره — وعا شقو ته ریبا ره
دد رد منو تکیه ګاهه — دغمګینو غمګسا ره
که یې وصل وی که هجر — دواړه وژله کړی یکباره
خېژی ساه په دواړه رنګه — له او بووی که له ناره
په ما نۍ د یار له یا ره — ځان کوټنه کا اختیاره
پ دشاهان په ګدائی کړې — دیوه دیدن د پا ره
صدقه تریوه مخ کړې — خلقه هز ا ر هزا ره
عا قلان دهلکا نو — مسخره کړې سحر کاره
ترشا ګرد پورې استاذ کړی — بېچاره غریب نا چاره
دشیخانو طا یفه کړی — در ندا نو خد متکا ره
تر مرئی پورې څښتن کړې — شر منده او شر مسا ره
عزیزان دخلوت بوزې — ګر یوان څیرې تر بازاره
په ګړۍ کښې وسړی ته — څوڅو چارې کړې دو چاره
دحیا دوقار خلك — بې حیا کړې بی وقاره
دتقوا انبار خانه کړې — په ګړۍ کې تار په تاره
ځارد تر کو بلا عشقه
دحمید بلا بر دا ره

چه پوښتنه مې دحال نه کړې دلبره — لا مې نه ګڼې دعشق تبه شیبره
زه د ستا له ډېره غم هډو پوست شوم — ته زماله خرابۍ ئې بې خبره
زه به ځای دروح له بره(۱) وتا در کړم — که مې یو ځله خدای راوستې تر بره
زه خوستاله سروې قده برخور دارشم — که هر څو سروې بلله شی بې بره
هسې زه په حم قامت له تا ځار ېږم — لکه څانګه دچنبېل ترصنو بره
دخط خیال مې دې له سره تلونی نه دی — که سایه پرې د همای شی برابره

چه دبل دپاره ځان سېځې حمیده
تل ئې وی لکه د شمعې پایه بره

تن پر ور وڅخه درد دعشق مه غواړه — مونده شی ګنج ددرو لعلو په ویجاړه
په طلب مې د غافل هسې خندا شی — لکه څوك وی ځوی په غاړه ځوی وغوړه
دغفلت په کوټه ګر مومې زړه سوځی — چه همه له تندې مری درود په غاړه
چه امید په فانی د هر د بقا کړی — دام دې تشه باد پېزی کړی وئې نغاړه
دم قدم لکه کمر د شګو رژی — دنا بود عمر په بود باندې مه و یاړه
کوم ساعت به دې سرلاندې ځنې لګی — دشګلن کمر په سر باندې ولاړه
څودې ښه دفکر شخوندزده کړی نه وی — چپ شه مه کوه خبره لواړه لواړه
له جاهل سره جاهل په جواب رسی — ده دسپی په څرمن منعه دسپی داړه

چه په مخ ئې دګلرخ سپړې حمیده
په هغو ستر ګو په شان د شبنم ژاړه

په رقیب له مانه مهر مزید مه کړه — دحسین په مرګ مدد دیزیدمه کړه
خود مې مهر ستا دمخ وژنی دلبره — هېڅ په مرګ زما دقتل تاکیدمه کړه
څو(۲) کوثر مې ستادشوندو نصیب نشی — خدای مې هېڅکله داهسې شهیدمه کړه
په وعدهٔ د لاس لستو نی را ته نیسی — جګې جګې نه دی رخ هسې بریدمه کړه
ژړوې می درقیب په خاطر ولې ؟ — په کونجکه ددې درو خریدمه کړه
چه مدام درته تلقین دجفا کاندې — ځان په پند در قیبانو مریدمه کړه
ګیرو پیر چه ته رقیب په غېږ کښې نیسی — تش په توره ډېر منت په عبیدمه کړه(۳)

چه رقیب در سره راولې په څنګ کښې
د دغو را تلو منت په حمید مه کړه

---

(۱) یعنی دروح دپاسه. (۲) په قلمی نسخه کې دڅو په ځای (چه) دی . (۳) دا بیت په قلمی نسخه کی نه دی راغلی .

ښه چه بېله مې په غم شوه دزړه دړه — ګوندې شی پکښې لمن دوصل اړه
عشق مې هسې بې اختیاره دماغ کوز کړ — لکه ور غړی کر کنډه له سر ځوړه
عاشقی توره بلا نه وه کېمیا وه — پرې زما خاکی بشره شوه زری ژیړه
که څوك غواړی ځای دامن په دنیا کښې — کمه نه ده عاجزی تر پخه ګړه (۱)
که ئې سیند کړې دغوړو ترستونی ښکته — سپوره خوله به دحریص نشی پرې غوړه
داخوزه له سادګی عشق ته موس کړم — ګوندې څوك بولی بلا په بړه بړه (۲)
سپېلنی غوندې په اور دنو خط حسن — سرتر پا یه سره لمبه شم شنه لو خړه
چه ور و ښو ښکلی مخ خط دښنی — اوس مې زړه ورسره کا ناحق جګړه

غمخواره ئې غمخورګی د کوم کوم غم کا
چه پسی شوه په حمید دغم پیکړه

نه کړی هیڅ راباندې یارد مهر پېښه — ای زما تو رې طالع څه خو و برېښه
چه می هر ساعت زبېښی دجګر وینې — یوه ورځ مې هغه لب په خوله وزبېښه
لائې سوك دبېرحمی په ستر ګومبزې — بیا په ښکلو پسې زغلې ولې هېښه
یاله نازه راته یار ګونګنو (۳) وائی — یا ئې نښلی خوا زه لب سره له سر ېښه
دعشق بارچه آسمان زمکی ساهه نه شو — تا په کوم قوت آخیست کونه اندېښه
اول مه وای مین شوای چه مین شوم — اوس راپېښه هر چه ده نیسه په خوېښه

ښکلی مخ وته کاته کار دحمیددی
دنامر دوستر ګې برېښی له توز برېښه

چه چا کړی د ګمان لینده بر کښه — دباور غشی به لك نه کړی په نښه
ماته عینې په خره سور مختور لیده شی — دپندار په اس سوره له ځا نه خوښه
په ظاهر لکه موسی خېژی آسمان ته — په باطن لکه قارون په زمکه خښه
هیڅ دې شرم له حاضره خدا یه نشی — په صورت ملایکه په خوی ګور کښه
نه په مړو باندې صرفه نه په ژوندو کړې — په خرقه ددر و ېشی کښی کفن کښه

چه هردم دمرګ زمری ور ښو ده نه شی
څه به نه شی د حمید غزا له خوښه (٤)

---

(۱) یعنی پخه کلا (۲) یعنی په به به او په خوشحالی (۳) په چاپی نخسه کښې (ګنګوړه) راغلی دی
(٤) داغزل په قلمی نسخه کښی نشته له چاپی نسخی څخه نقل شو.

ای مدام دس په زېرمه کښې رنځ کښه — په دا رنځ کې په آزار دخلقو خوښه
و هېچا تـه له تـا نفع نـه ر سېږ ی — بلکه تل لکه اغزی په نـو رو خښه
یوه ورځ بة بندیوان دبا زیه څېرشې — چه دې شپه او ورځ خوراك شو دقام غوښه
د مظلو م د آ ه آ زا رو چا ته مشه — عا لمونه ئې و ر ا نېږ ی له ار خښه

دمظلوم آزار خالی نه ځی حمید ه !
دویشتو نی گو زار پاس لگی په نښه

چه دبل په خوښه پر ېږدی خپله خوښه — تردې خو ښې خو ښه نشته بـله خوښه
نا خو ښی متا بعت در کړ ی نه دی — خو در وی ده ستاله دې کـبله خو ښه
ې را ستیه دم قدم منا سب نـه دی — په آغاز د ه دهر کـار بسمله خو ښـه
چه په تول کښې روی ریاد هېچا نه کا — دهر چا پـه دا سـبب دهٔ تلـه خو ښه
که خوبان د کـبرو ناز په خوی ناز ېږی — د ه زما د کـمینی بـد لـه خـو ښه
که یوه گړی ناخوښ نفس وهوا کړی — دا کـا نه به دې شی تل تر تله خو ښه
که په سوز دپروانه شی و از مېیلې — نور به شی هاله په گـل بـلبله خو ښه
که مې څوك (١) په آزاریو په لسه خوښ وی — د غه چا ر د ه زمایو په سلـه خو ښه

سر درد پورې د پند مـه کړه حمیدهٔ
خو دروان به کړی ستا خوښه کـله خوښه

دامې لاس را کیښ صنم په سر دپاسه — که وز مکې ته را کوز شو لمر دپا سه
سپك سپك غر د یار دمینې هسې درندوی — لـکه ا یښی په سینـه و ی غـر د پاسه
لائې زه له پی مختوبه چور چور ناست یم — بیا ئې که را باندی خط لښـکر دپا سه
لـکه پروت وی تور اطلس په مـکه باندی — هسې رنـگ ئې دی فلك په سر د پا سه
څو بې عقله لېونی نشی په عشق کښې — بـل هنـر نشته تر دی هنـر د پـا سه
په یوهسې مغرور حسـن مبتـلا شوم — چه لری تر نمر سپوږ مې نظر دپا سه
دمغرب له لوری نمر وخوت قیامت شو — کـه راځی په کـبرو ناز دلبر دپا سه
څوك به هی زما په مرگ کا په خوار مړی — نړ ا وه شی همېشه کـمر د پا سه

چه نمړی دپا سلونې خو ری حمیده
په یوه پرهر ږ دی بل پـر هـر دپاسه

---

(٢) په چاپی نسخه کښی دڅوك په ځای (یار) راغلی دی .

د د نیا د مال په تللو د لګیر مه شه — مات اغزی دې له پښو خېژی زهیر مه شه
نس هوا دی خدای اسیر وتاته در کړه — ته د خپلو اسیر انو اسیر مه شه
د پند اری په خو د رأیی سره نشی — په دا کار کې بې مرشده بې پیر مه شه
نه دې نس لره جلب دور کولو — آموخته درباندې غل او کا سیر مه شه
چېر ته سوی دیوه داغ چېر ته دزرو — د د نیا د ډېرول په تدبیر مه شه
وا یه سپك ښه دی که دروند د سر پېټوری — فقیری در لره ښه ده امیر مه شه
خدای در کړی شنو اغوز دی بیناستر ګې — دانسته تر کمر لو ېږند بصیر مه شه
په خندا په رانه و چولی د خلقو — جفا کشه نښنا نه او سه تېر مه شه

نور قید و نه واړه سهل دی حمیده
خو په غاړه دې د طمعې ځنځیر مه شه

آرزو مند دیار د درد په دوا مه شه — بېګانه د خپلو منځ لره را مه شه
هنګامه د مینې ګرمه ده تر حسنه — دمجنون د درګدا شه لیلا مه شه
که بانه دی د نګار په قوده غشی — یوز ماد زړه له نښې خطا مه شه
که مې پرېوته سیاهی په خاطر باندی — چه له زلفو د دلدار ده رنا مه شه
که بلا په عشق کښې ډېرې دی ناصحه — دا بلا واړه په ماشه په تا مه شه
که مې مرګ دی هغه یار ته په خواشوی (۱) — له دې کاره پېښمانی ور په خوا مه شه
د غه غم اندوه ئې سر د نافې سپین که — څوك له خواد آهو چشمو جدا مه شه
پروانه غوندې خو له پټه خپسر سېڅه — دسپند په څېر شوخ چشمه رسوا مه شه

هېڅ دې دم ور باندې نه لګی ناصحه !
دا حمید بلا و هلی ملا مه شه

مرم له خپله اشتیاقه — نه د یار له افتراقه
هم د خپل عمل تېښه ده — چه وهم ئې له تاراقه
چه په مادی هم له مادی — نه له زیده ، له اسحاقه
خود مې ځان تر کمر پرېوست — لکه طفل په مزاقه
د شفا حاجت مې نشته — زما وینه له تریاقه

---

(۱) یعنی په زړه شوی .

دتریاق په امید راشی ما له زهر له عراقه
دمنگول په ځای خنجرشی رابېرون دیار له څاقه
بې آفته نور څه نشته زما بخره له آفاقه
دمیرځی نفاق را پېښ شو ددوستی له اتفاقه
له دې خپله توره بخته تور و مه څواوراقه
بله نه وه داوه داشوه زما بخره له میثاقه
نن ساعت به دې حمیده
مات کړی بخت سندان له تاقه

هر سردار چه دخپل قام دبدو خیال که آئینه دې دخپل ځان حال دجمال که
پر ېکوی تر خپلو پښو لاندې ښا خو نه چه بدې دعزیزانو په زړه نال که
عاقبت هغه سر دار شی مر دار پاتې چه ئې نس د خپلو بدو ته لیوال که
چه دبل وسر ومال وته هوس کړی ترهغه پخوا به ورك خپل سر او مال که
هم هغه به پکښی پر ېوځی دامتل دی چه وبل وته کوهی کنی و بال که
دهغو په خونه پېښ جنگ وقتال شی چه هوس دچا د جنگ او د قتال که
چه له خپلو لاسو پښو شی بې مجا له له غلیم سره به جنگ په کوم مجال که
په پردو مړانه نه کېږی بې خپلو له لحده دا او از جمال جلال که
که باښه دبازو ښکار په ډکه واخلی هېڅ ونه کړی خو ځان ستړی پوچ کشال که
له زرگونو بری نه شی وړی سل گونه مگر خا مخا ئی فتحه ذو الجلال که
چه ترخپله حده پښی غځوی وړاندی زمانه به ئې جمال غوندې پایمال که
چه په زوردبل جامه اغوندی ځان ته ناشسته به ئې دخپل زخم دسمال که
پردی برخی هېچا نه دی خپلی کړی بلکه خپلې به پری بایلی چه داخیال که
دجمال په څیر به وسیځی خپل سر پرې چه پیره هر پروانه په دامشال که
نا لایق چه لایقت په هېنډه غواړی دبرېښنا په رڼا ستن پېیی جنجال که
همداهسې نتیجه په لاس ور درومی چه دښو په بدله کښې څوك ناخوال که
نه نیکی په نا کسانو څر گندېږی نه په بټ باندی اثر آب زلال که
لکه لوی کړی لیو بچه درباندی تر پلی حال زمونږ او دجمال هم دامثال که

لکه گرم چه په حسن حسین یزید ؤ — هسې گرم په مونږ جمال ؤ که څوك سوال که
دا چه شوی دی له هسې نا چاریه — لکه سویه په سپی تر پلې انفعال که
نا خبر له حاله هر چه وائی ښائی — خبر دار مدام په عذر قیل و قال که
د هغو په سبب تل سوځی نور خلق — چه د توری اسره ور که(۱) په دېوال که
خو بدنام په دا جمال خدای خون ریزی کړه — گڼه هره چار په خلکو خپل اعمال که
په ازل د سود وزیان سودا دی شوی — ملامت څه لره خلق په دلال که

دا دو دونه د دې دور دی حمیده !
پو د بل په مرگ ملال کړی بل خوشال که

دا ستم به دیار هیڅوك سلانه که — چه ئې زه په قربان بولم بلی نه که
نه سړی ورځنې مری نه تری غیږی — خدای دې څوك د عشق په رنځ مبتلا که
هو مره زهد کړی عاشق په هره شپه کښې — چه په درست عمر ئې شیخ او ملانه که
عاشقان صبر او سکون دی سره لری — لیونی در و غو چاری اصلا نه که
د خو بانو د خندا لا یق به نه شی ! — څو دی عشق له عقله پلی جولا نه که
نه منمه او زبکی د هغه حسن — څو زما د صبر خو نه تالا نه که
شابه نه کړی مفت خواره وښکلی مخ ته — څو ئې سر ته د خط تو ره تر ملا نه که
محبت آسمانی تندر دی نا صحه — هیڅ فایده ور ته د صبر کلا نه که

څه بلا شوه د حمید په او ښکو سا زه ؟
چه اثر د یار په زړه باندې لا نه که

څو د نفس سره و نه درېږی په کلکه — په نرمۍ به کله خلاص شی له اوزبکه
واقعی نه کاڼی پوست نه غلیم دوست شی — په بندگۍ د نفس مغلیږه مرد که
لږ لږ ښه هم مناسب له نسه نه دی — غله میرمن کانی ځان موړ په څکه څکه
څه به ځای د خدای دیا دو پکښې کیږی — چه دې گیډه وی مدام په طعام ډکه
که دی زړه وی چه صورت می نورانی شوی — را خله پند له کوتی گیډی د فلکه
له فلکه سوال د نس دیاره مه کړه — در کوی که په کچکول کښې اوږمکه(۲)

---

(۱) په چاپی نسخه کښې (د نورو اسره) راغلی دی .
(۲) په قلمی نسخه کښې داسی راغلی ده ، ور کول کا په کچکول کښې اوږمکه

چه ئی زدی له کبره هوك په تندی باندی — دا دستار به دی کوز پر یوزی په غوزمکه
گوره کوز له هر چانس په کمینی کښی — که جنډه غواړي د عرش د پاسه لګه
چه له اهله د دنیا محبت نه کړی — همدغه دا من لوری دی بې شکه

له دې خپلې کمینیء عاجز یه
ای حمیده د خودبین دستر گو ککه

نه دی گل دستا د مخ مخی خو شرنگه ! — گل جلوه په یوه رنگ کړی ته سل رنگه
چه ئې ستا د تنگې خولې تصور وا خیست — په دا فکر کښې غنچه شوه په زړه تنگه
دغه ستا در اتلو رو گوری د لبره — دا چه سروې هسکه کړې ده غړنگه
چه سیالی ور سره زر کی په یا نه کړه — ولی ځان له دغه شرمه تر گړنگه
دا ز ما د آه لو گی پکښې لیده شی — آئینه دې د مخ نه ده په خط زنگه
چه ئې تاغوندې دلبر په څنگ کښې کښېنی — د هغو د ماغ بلند وی تر او رنگه
چه په سیند زما د او ښکو نه نر مېږی — طا یفه ده د خو با نو په زړه سنگه
زه دستا شرم و حیا کوزو کتو کړم — هم شوخ چشم هم بیشرم هم بې ننگه
هسې رنگ د بنو غشی رسا ولی — چه هېڅوك ئې سلامت نه ځی له جنگه

پس له مرگه دې حمید هسی ژاړه شی
ای په اور د ښکلی مخ سوی پتنگه !

چه پیری مې زیره سپینه کړه ملا غبر گه — بو یه قد د سروې قد عصا تر تخر گه
په راستی مې د خپل آه هسې باور دی — چه همدم به یم د ښکلو پس له مر گه
عشق په زړه د تن پرورو کله لگی — دا چه نه کړی اور اثر په لمده گر گه
پر ېږده ما په عا شقی کښې وږ ی تږی — نه ناصح ورځه په ډ که گېډه ار گه (۱)
زه د یار غمونو هسې هډو پوست کړم — لکه ونه په خزان کښی شی بې بر گه
که هاله وم ایله اوښ په صورت څورب — اوس د عشق غمونوو ویستم له ور گه

په ځوانی د عشق غمو نو حمید زوړ کړ
بې مودې ئې ز یره سپینه شوه ملا غبر گه

---

(۱) یعنی په ډ که گېده ار گی کوه .

JAN 2 9 1952

په پښتو ټولنه کې

د عقرب به میاشت کې په پښتو ټولنه کې دا وروسته چارې پیښې شوې دي :

۱ـ ښاغلي محمد رفیق قانع د پښتو ټولنې دلغاتو د څانګې عضو، چه د پښتو یو بخوانی لیکوال او د پښتو ژبې د خدمت په لیار کې ئې ډېره برخه اخیستې ده، د سپین زیر توب له امله تقاعد شوی دی اوله د اصلاح په روز نامه کې د پښتو محررؤ او بیا د پښتو ټولنې عضو شو، پښتو ټولنه د ښاغلي قانع د ټېر و خدمتو نو ستاینه کوي او په ډېر خپګان ورته وداع وایي،

۲ ـ د مطبوعاتو د ریاست د نظریې سره سم ښاغلي پاینده محمد خوږیانی د کابل رادیو د نشریاتو په معاونۍ او د پښتونستانی ږرو ګرام د چلو لو په کار مقرر شوی دی او ښاغلي جرار ده په ځای دهیواد د معاونۍ په کفالت تا کل شوی دی. مونږ د ښاغلي خوږیانی له کار او زیار څخه تشکر کوو او ښاغلي جرار ته له خدای نه توفیق غواړو،

۳ـ د پښتو ټولنې دادبیاتو څانګې ترتیب نیولی دی چه د پښتو ځینې قلمي زاړه دیوانونه د اصلي قلمي نسخې له مخه نقل کړي او بیائې په مناسب وخت کې چاپ هم کړي، په دې صورت له یوې خوانه د پښتو دیوانونه د چاپ دپاره تیار یږي اوله بلې خوانه دیوې نسخې په ځای بله نسخه هم د پښتو ټولنې لاس ورځي،

په دې سلسله کښې د مطیع الله (۱۲۰۰ هـ) قلمي دیوان کامل نقل کړی سو او په پښتو ټولنه کې وساتل شو.

کابل

3
Copy
2
12
52

دیوه کال قیمت

د کابل په ښار کښې	:	۳٦ افغانۍ
په دننه هېواد کښې	:	٤۰ افغانۍ
په نورو ملکونو کښې	:	٤ دالره
د ښوونځیو زده کوونکوته	:	نیمه بیه
یوه کپۍ	:	دوه افغانۍ